Jul. 63

کابل

(۵۳۱)

پرله پسی کنه

(۱۰)

2 - NOV 30
Copy ____ 1964

علمي اجتماعي او ادبي

مرغومي (۱۳۴۲) لمرنی کال د (۱۹۶۳) عیسوی کال دسمبر او جنوری

شمیر	مضمون	لیکوال	مخ
۱ -	زمونږ مشاعري	پوهاند رشتین	۱
۲ -	د پښتو اصطلاحات	حبیب الله پښتون زوی	۶
۳ -	خوشال بابا او...	محمد مؤمن پټوال	۱۷
۴ -	مارکو پولو	د ثابت ترجمه او څېړنه	۴۰
۵ -	د پښتو شعر او ادب...	واسعي	۵۶

امتیاز — د پښتو ټولنې

مشر — پوهاند رشتین

مسئول مدیر — محمد صدیق روهي

پوهاند رشتین

زمونږ مشاعرې

دا یوه طبیعي خبره ده چه شاعران او ادیبان له مشاعرو سره ډېره مینه لري او په دغه وسیله دوی د خلکو دوړاندې د خپلو احساساتو د څرګندولو مظاهره کوي.

د شعر ویلو او مشاعر وشوق زمونږ په هیواد کښې ډېر زیات دی. کله چه د مشاعرې غږ پورته شي نو لوی واړه ځوانان او سپین ږیري پکښې برخه اخلي او ډېره هڅه کوي چه خامخا یې نوم د مشاعرې په لړ کښې راشي. د ۱۳۴۳ کال په وروستۍ برخه کښې د ننګرهار د شاعرانو له خوا په ننګرهار کښې یو څو درنې مشاعرې وشوې لومړۍ مشاعره د ایمل خان په نامه، دوهمه د ملنګ جان، دریمه د دریاخان څلورمه د عمرا خان او پنځمه د غازي محصل خان په نامه وشوه.

زه په خپله هم د مشاعرو کولو او شعر ویلو ملګري یم او دغه مشاعرې د ملي او پښتني احساساتو ښه څرګندوني بولم خو دومره خبره ده چه هر یو کار کښې زیاتي کول او له اندازې وتل راته ښه کار نه بریښي.

که مونږ په دغه وخت کښې په شعر ویلو ډېر زور واچوو، نو د نثر خوا مو نوره هم کمزورې پاتې کیږي.

پخوانو خلکو هم ډېر شعرونه ویلي دي او پښتو ادب د شعر په برخه کښې پوره پانګه لري.

لاکن د نثر برخه له پخوانه هم کمزورې پاتې شوې ده - او که اوس هم ورته پاملرنه ونه شي نو د همیشه د پاره به د کمزورۍ په رنځ اخته وي.

ما د ننګرهار د مشاعرو په وروستۍ مشاعره کښې ګډون درلود ، څه چه ما په مشاعره کښې ولیدل غواړم چه دلته یې دقلم په څوکه ګرانو لوستونکو ته ښکاره کړم :

۱ ـ لومړۍ خبره چه باید دهر چا غوږ وته ورسوله شی دا ده چه په مشاعره کښې د کوم ټاکلی پروګرام خیال نه وساتل شوی ، د تنظیم له خوا نه پکښې یو څه نیمګړتیا موجوده وه . زما په خیال په ژوندانه کښې پروګرام او تنظیم یو مهم شی دی . بی نظمی او ګډوډی دهر کار خوند او رنګ له منځه بیایی .

راتلونکی مشاعرې ښایی چه دیو منظم پروګرام لاندې راشی د شروع او ختمیدو وخت یې باید معلوم وی ، که چیرې مشاعره ډیره اوږده شی او شعرونه هم زیات د معنی له مخه تکرار وی نو هر ومرو په اوریدونکو ناوړه اغیزه کوی او د خوښۍ پر ځای تری ناخوښی ولاړیږی .

۲ ـ دوهمه خبره داده چه د مشاعرې ټول اشعار باید دیوې ټاکلی ډلګۍ او یا د کوم ښه شاعر او استاد له خوا وکتل شی ولی چه ډیر ابتدایی اشعار په یوه لویه ټولنه کښې ویل د پښتو د بد نامۍ سبب کیږی .

د پښتو شعرونو اوس خپله ابتدایی دوره تیره کړې ده او دې دورې ته که مونږ انتهایی دوره نشو ویلای نو منځنۍ دوره خو یې بللای شو .

له دې کبله په دغه وخت کښې ډیر ابتدایی شعرونه منل د پښتو د کمزورۍ نښه بلل کیږی .

۳ـ په دغه مشاعره کښې بله خبره دا وه چه ډیرو کوچنو هلکانو په خپلو نومو شعرونه واورول .

دا ترتیب هم زما په خیال د روزنې له پلوه کوم موزون ترتیب نه دی . دیو وړوکی هلک یا نجلۍ په نامه کوم شعر جوړول او هغه بیا خلکو ته اورول هیڅ فایده نه لری ؟

له نوی ونې یا نیالګی څخه میوه غوښتل د ساده ګانو کار دی . کله چه ونه پخه شی په خپله میوه نیسی او هر څوک تری ګټه اخلی

مونږ ته داسې ډېر کسان معلوم دي چه کوچنيان وو ، شاعران وو اوس چه لوی شول نو شاعری ورځنې وتښتېده .

ددې خبرې مطلب دادی چه يو بی اساسه کار ته لاس اچول نه دی پکار .

۴ ـ په مشاعرو کښې ډېره مبالغه کول هم کوم ښه صفت نه دی. که مونږ ديو اوسنی يايو پخوانی مشر په ستاينه کښې لـه ډېـرې مبالغې نه کار واخلو او په هغه پورې ډېر بی ځايه صفتو نه وتړو نو دا کار له يوې خوا زمونږ دسرسری توب ښه ده او له بلې خوا دستايلی شـوی سړی سپکاوی دی . کوم صفت چه په چا کښې نه وی او څوك يې ورپورې تړی دا په حقيقت کښې په هغه پـورې خندا کول دی ، لکه سړی چه يو شوم او بخيل ته ووايی «چه هاغه دی حاتم طائی راغی» په دې خبره به هغه څومره پيکه اوخيرجه شی ؟ او په خپله ستايونکی به پرې هم بد ښکاره شی .

په هر شی کښې داعتدال درجه ساتل يو ستر صفت دی . په بی ځايه ستاينه او مبالغه کښې دحقيقت څرګند بدلو اصلی ښه له منځه ځـی او بيايو سړی په رښتيانی ډول دښه او بدتو پيرنه شی کولای.

نو ښايی چه زمونږ شاعران دغه ټکی ته پام وکړی او له بی ځايه ستاينو څخه ځان وژغـوری .

۵ـ بله خبره دخوش بينۍ او بد بينۍ ده. دلته هم داعتدال دچوکاټ څخه نه وتل يو غوره صفـت دی .

په ژوندانه کښې ډېره بد بينی هم سړی په غفلت کښې اچوی .

که مونږ په خپلو شعرونو کښې د بد بينۍ او خوش بينۍ ترمنځ لاره ونيسو نو دا به دپرمخ تګ دپاره يوه ښه کړن لار وی .

٦ـ په دغه مشاعره کښې دپخوانو غزاګانو او مجاهدې وستايل شوې لاکن دهغوی کمزورې خواته هيڅ ګوته ونه نيول شوه .

بنيادی خبره داده چه دژوندانه کاميابی په دوو اساسی شيانو پورې اړه لری چه يو توره او بل قلم دی . که چيرې يو اولس په يو لاس کښې قلم او په بل لاس کښې توره وانه خلی هغه اولس هيڅکله په پرله پسی ډول کاميابيدای نه شی .

زمونږ په پخوانو مشرانو کښې د تورې او قلم خاوندان ډېر تېر شوی دی لکه احمدشاه بابا ، خوشحال خان ، حافظ رحمت خان بړیچ او نور. دانګریزانو په زمانه کښې زمونږ ځینې روحانی مشرانو له انګریزانو سره ډېرې جګړې کړی دی لاکن دخپل اولس د پوهېدو او تعلیم وخواته یې هیڅ توجه نه ده کړې نو ځکه زمونږ اولس ، زمونږ قوم دعمل په ډګر کښې له نورې نړۍ څخه ډېر وروسته پاتې دی.

۷ـ زمونږ شاعران په خپلو شعرونو کښې تل داحساسا تو سیندونه په غورزنګ راولی .

داکار هم دومره منلی اودستاینې وړ نه دی .

دژوندانه دمانۍ اصلی بنیاد عقل او پوهه ده. احساسات یې دښکلا اوښایست وسیله ده. که په بله ژبه ووایو نو احساسات په ژوندانه کښې دمالګی حیثیت لری. په ډوډۍ او کتغ کښې مانګه په اندازه په کارده او که چیرې مالګه زیاته شی نو هرراز خواړه له خوراکه وځی او ګټه ترې نه اخیستل کیږی .

تعقل په ژوندانه کښې دتنستې او بودې مثال لری او احساسات یې درنګ اوښایست کارورکوی .

نو په دې لحاظ په شعرونو کښې داحساسا تو دخرګندولو سره سره دمعقولیت او پوهې اړخونه هم په نظر کښې ساتل پکاردی.

۸ـ دویلو او کولو خبره هم یوه درنه او پخه خبره ده . ډېر کسان نورو خلکو ته وعظونه کوی، لاکن مونږ چه ګورو نو اغېز او اثریې هیڅ نه وی ددې خبرې وجه داده چه دغه کسان په خپلو خبرو په خپله هم عمل نه کوی. ددوی دوینا او عمل ترمنځ ډېر تو پیروی . دوی وایی یو څه او کوی بل څه خلک چه ددوی دغې چلند ته وګوری نو زړه یې ددوی له خبرو هم تورشی. دغه مثال دشاعرانو هم دی که چیرې یو شاعر او ادیب خپله وینا په خپله عملی نه کړی او کړه وړه یې دشعر نه ډېر لری او بیل وی نو طبیعی خبره ده چه په نورو هم څه اثر نه کوی او خالی یو ظاهری جلبل او دخولې بکواس ورته ویلای شو.

۹ـ په دغه مشاعره کښې یو نفر ځینو روحانی کسانو ته ګوته ونیوله او ددوی چال چلند-یې وغنده .

په دې باره کښې زماخیال دادی چه دهر استفاده کو ونکی په مقابل زمونږ وظیفه داده چه خپل اولس د تعلیم او پوهې په وسله سمبال کړو، کله چه اولس پوه شو او خپل خیر او شر یې وپېژانده، نو بیا ورځنې هیڅوك بې ځایه استفاده نه شی کولای او نه یې څوك لوټلای اوشو کولای شی. که یوسړی په یوه وچ دښت کښې یوازې بې وسلې روان وی او دځان دبچاوتا بیا یې نه وی کړی نو هر ومرو به یې غله په لاره کښې شو کوی او مال هل به ترې اخلی.

۱۰ـ بله مهمه خبره دشعرونو لفظی خواوته توجه کول دی. مونږ ډېر شعرو نه وینو او اورو چه دپردوژ بوګران اومشکل لغات په کښې راوړی او د شعرخوند، روانی اومزه په لوی لاس په سین لاهو کوی.

د شعر اسان اوروان تعریف دادی: چه خوند ورمطلب او لطیفه معنی دخوږو اولطیفو الفاظو په قالب کښې واچولی شی. له دې کبله الفاظ اولغات دیو شعر په بنا یست کښې لویه برخه لری، اودرانه اوشلول کلمات یو شعر څه چه یو نثر هم دفصاحت له کرښې څخه وباسی.

۱۱ـ په دی مشاعره کښې یو څو مقالې هم ولوستل شوې. دغه مقالې دمعنی اومطلب له مخه بنې وې مګر ددر نو عربی الفاظو دراوړلو په وجه یې دپښتو اهمیت له منځه تللی ؤ.

دمثال په توګه په یو عبارت کښې (د محیر العقول، محیط، ماحول) کلمې یو ځای راوړل اویاد (لاینقطع) کلمه استعمالول له پښتو سره زور زیاتی کول دی. که مونږ ددغو کلمو پرځای (حیرانوونکی، چاپېر، پرله پسې) راوړونو په دی کښې به څه تاوان وی؟

۱۲ـ په آخر کښې زه دې خبرې ته بیا اشاره کول غواړم، چه پښتو ژبه اوس له نظم څخه نثر ته زیاته اړتیا لری. بنایی چه پښتانه شاعران، ادیبان ورته پوره توجه واړوی او دمشاعرو پرځای دمنا ثرو مسابقه یا دنثر لیکلو زغل شروع کړی دا کار هم دژبې دپراختیا دپاره سودمن دی او هم دهر راز فکرونو او خیالونو دخرګندولو دپاره یوه پراخه او اسانه لاره ده. له دې کبله پکار دی چه نوی ځلمیان خپل ټول کوشش دکیسو، افسانو او ډرامو لیکلو دپاره پکار واچوی او له دې لارې څخه دخپلې ژبې او ادب دلوړتیا دپاره یو نه هیر بدونکی خدمت وکړی!!

ژبپوهنه

حبیب الله (پښتون زوی)

د پښتو اصطلاحات

که موږ د دنیا په ژبو یو نظرو واچو واو لټ په لټ یې واړوو ، د دی پلټنې او تحقیق په واسطه به دا څرګنده شی چه هره ژبه ځینی مهم شیان لری چه هغه د ژبې د قوت سبب ګرځی ښایی چه ژبه له یو حال نه بل حال ته تغیر وکړی ، وسعت او پراخ والی پیدا کړی ، زاړه شیان یې له منځه ولاړ شی او له نویو شرایطو سره سم نوی شیان پکښی راپیدا شی ، مګر کوم شیان چه موږ مهم وګڼل او د ژبی د تقویې سبب موو بلل او هر وخت په ژبه کښې موجود وی ، هغه (متلونه او اصطلاحات) دی .

هره ژبه متلونه او اصطلاحات لری او دیوې ژبې د زده کولو او ترجمې کولو په وخت کښې تر هر څه د مخه د هغې ژبې په متلونو او اصطلاحاتو پوهېدل په کار دی . د متلونو او اصطلاحاتو کیفیت په لاندنیو د زیو نکتو کښې وړاندې کوو :

۱ ـ متلونه او اصطلاحات د یوې ژبې د ګړېدونکو فکرونه ، خویونه او تجربې راښیې .

۲ ـ متلونه او اصطلاحات په ژبه کښې تل موجود وی ، د نویو شرایطو له راپیدا کېدو سره سم نور هم پکښې راز یاتیږی او د هغه قام او اولس غوره او قیمتی ویناوې دی .

۳ ـ د ترجمې په وخت کښی په دې شیانو باندې پوهېدل ډېر ضروری دی څو چه

د یوې ژبې زده کوونکی د هغې ژبې په متلونو او اصطلاحاتو پوره ونه پوهیږی، ګواکې ده هغه ژبه پوره نه ده زده کړې او یوه په زړه پورې ترجمه به ونه شی کړای ځکه چه ټکی په ټکی ژباړه په ډېر و ځایو کښې له اصل سره چپه راځی یعنی د مثبتې معنا پرځای منفی، او د منفی معنا پرځای مثبته معنا ځنې راوځی (۱).

او که ښه پرې پوه وی، نو ددې په ځای چه ټکی یی معنا کړی؛ کولای شی چه په خپله ژبه کښې د هغه متل یا اصطلاح انډول پیدا کړی (۲).

لنډه دا چه متل او اصطلاح په هره ژبه کښې مهم ارکان بلل کیږی.

پښتو هم د دنیا د نورو ژبو په شان دا مهم ارکان لری حتی ویلای شو چه په دې برخه کښې د دنیا له نورو ژبو څخه په مخکښې ده. زموږ ددې خبرې د پاره دلیل دادی چه برسېره پردې چه په پښتو کښې متلونه او اصطلاحات ډېر دی، یو بل فوق العاده شی له نورو ژبو څخه زیات لری چه هغه د نړۍ په نورو ژبو کښې نه پیدا کیږی او هغه (پښتو لنډۍ) دی.

---

(۱) مثلا په انګلیسی کښې د (Lookout) اصطلاح د (پام کوی) په معنا ده. که څوک یې په (وګوری) سره معنا کړی ښایې صحیح نه وی. په دې باره کښې یوه فکاهی هم شته او هغه دا چه:

یوه ورځ په امریکا کښې موټروان د دوو غرو نوتر منځ په یوه تنګه لاره کښې سرویس بیوه په دې لاره کښې یو داسې ځای ته ورسېده چه د یوې او بلې خوا څخه د سرک منځ ته تیږې لږ څه راوتلې وې.

د دې د پاره چه څوک د سرویس له کړکۍ نه سرو نه باسی او زخمی نه شی، نو موټروان غږ کړ: «Lookout»، یعنی پام کوی چه خوږ نه شی! یو فرانسوی په دې سرویس کښې ناست ؤ او سم د لاسه یې د موټروان له غږ سره سم د موټر تر کړکۍ سرویوست او په هغو تیږو خوږ شو. نو په انګلیسی یې یوه جمله وویله چه ترجمه یې دا سې ده: «انګلیسی یوه ډېره بده ژبه ده. کله چه درته ووایی چه: «د باندې وګوره!» نو ته باید د ننه وګورې!!»

(۲) مثلا د انګلیسی دا متل: Prevention is bv far better than treatment په فارسی کښې په «علاج واقعه را قبل از وقوع باید کرد» سره او په پښتو کښې په: «چه د مرګ سختې خوارۍ دې دی په مخکښې، ای رحمانه ولې نه مرې لا پخوا» سره معنا کولای شو.

دامنم چه د دنیا هره ژبه شعرا و نظم لری او موږ یې په پښتو کښې هم لرو ، لیکن د پښتو لنډ یو په شان طبیعی او ملی شعر ، په همدې کمیت او کیفیت سره نورې ژبې یوه هم نه لری . نو ددې نه هم د پښتو تکامل او لرغو نتوب څرګندیږی .

د پښتو اصطلاحات ، متلونه او لنډۍ که څه هم د ترکیب په لحاظ اوږده نه دی او لنډ لنډ دی ، مګر د کیفیت او مفهوم له مخې دا درې ژبنې عناصر ډېر جامع او ارت دی او په هر یؤ کښې پوره پوره مطلب ځای شوی دی .

دلته موږ غواړو چه لومړی د لنډ یو او متلونو په برخه کښې څه و وایو او بیا به بیرته خپلې اصلی موضوع ته ، چه اصطلاحات دی ، ولاړ شو !

متلونه : متلونه د پښتو د شفاهی ادب یوه ښه نمونه ده چه کومه زمانه او کوم خاص ویونکی نه ترې څرګندیږی بلکه په هر وخت کښې د هر چا له خوا ویل شوی دی . متلونه زموږ د پلرونو او نیکونو قیمتی ویناوی دی . عبارت یی لنډوی مګر پوره مفهوم پکښې پروت وی . له متلونو څخه د یؤ قام خو یونه ، فکرونه او تجربې څرګندیږی .

په خبرو کښې خوږوالی او قوت پیدا کوی او په نظم او نثر کښې د متل را وړل یو صنعت بلل کیږی . د پښتو متلونه زیات اجتماعی او اخلاقی مطالب لری او که موږ ورته ځیر شو ، داسې یو ډول ادبی عناصر دی چه په هره زمانه کښې خپل قیمت او اهمیت له لاسه نه ورکوی . متلونه په پښتو کښې ډېر دی مګر د پښتو ټولنې له خوا یې یوه وړه مجموعه چاپ شوې ده (۱) .

لنډۍ لنډۍ د پښتو یو پخوانی طبیعی شعر دی له دې نه هم خاصه زمانه او خاص ویونکی نه معلومیږی بلکه په هره زمانه کښې د هر چا له پلوه ویل شوې دی چه د ټول اولس یوه ګډه پانګه ورته ویلای شو او د شفاهی او عمومی ادب یوه ښه نمونه ده . هر ډول مضمونونه او مطلبونه پکښې بیا نېدای شی . خو د غیرت ، مینې ، تورې او طبیعی مناظر و مضمونونه پکښې ډېر دی . لنډۍ زیاتې د ښځو له خوا ویلې شوې او هر چېرې د متلونو په ډول ویلې کیږی چه په هره یوه کښې د یو پوره غزل مفهوم پټ دی . لومړۍ مسرۍ یې نه سېلابه او دوهمه یې د یارلس سېلابه ده چه ټوله لنډۍ دوه ویشتو سېلابو ته رسېږی او هیڅ یوه لنډۍ له دې قالبه نه شی وتلای . په اخېر کښې یی (نه) او (مه) دغږ داوږ دولو او آهنګ برابرولو د پاره راځی څه رنګه چه لومړۍ مسرۍ یې له دوهمې نه لنډه وی ، نو په دې وجه لنډۍ ورته وایی .

---

(۱) د پوهاند رشتین درسی نوټونه .

که څه هم لنډۍ په پښتو کښې بیخی ډېرې دی مګر د پښتو ټولنې له خوا یې یوه مجموعه چه اتو زر وته رسیږی، چاپ شوې ده (۱).

اوس به راشو خپلې اصلی موضوع ته او د پښتو اصطلاحاتو په باره کښې به خپلې مقالې ته دوام ورکړو.

اصطلاحات: د اصطلاحاتو یا اصطلاح ګانو مفرد (اصطلاح) ده. دا هغه کوچنۍ جمله یا خبره او یا ترکیب دی چه د یوې معنا او مفهوم د پاره په غیر مستقیم صورت سره استعمالیږی. د یولړ جریانونو څخه وروسته د یو مقصد د بیانولو د پاره یوه وړه جمله یا خبره وضع شوې او اصطلاح بلل شوې ده.

اصطلاح یو محلی رنګ لری، د متل او لنډۍ غوندې شهرت نه لری مګر کله چه مشهوره شی بیانو د متل شکل غوره کوی.

په اصطلاح باندې د ټولو اتفاق نه وی راغلی بلکه د یوې ډلې اتفاق پرې راغلی وی(۲)، مګر متلونه او لنډۍ ارت ډګر لری.

پښتو اصطلاحات هم د متلونو او لنډیو په شان په پښتو ادب کښې نخچه لوبوی او خبرو ته قوت ورښی له دې نه هم کوم خاص ویونکی او خاصه زمانه، نه څرګندیږی بلکه د هرچا له خوا په هره زمانه کښې ویل شوی او ویل کیږی.

یوه خبره د یادولو وړ ده او هغه دا چه کېدای شی چه ډېر اصطلاحات د دوو محیطونو ترمنځ سره ګډوی او دواړه سیمې کار څخې واخلی او یا دا چه په یوه سیمه کښې به وی په بله کښې به نه وی، یا به په یو محیط کښې یو رنګ لری او په بل محیط کښې بل رنګ. مګر دا قانون تل جاری دی، هر کله چه یوه اصطلاح د یو محیط خلک په بل محیط کښې واوری، نو په خپل محیط کښې یې رواجوی او په دې ترتیب لږ څه عمومیت پیدا کوی.

که څه هم هر ځای د پښتنو په محیط کښې مختلفې اصطلاح ګانې موجودې دی مګر څه رنګه چه مالاتر اوسه د پښتنو ډېر محیطونه، نه دی لیدلی او ګوزاره مې نه ده پکښې کړې، نو په دې وجه ګرانو لوستونکو ته په دې مقاله کښې یوازې هغه اصطلاحات وړاندې کوم چه هغه د پکتیا په زرمل کښې موجود دی، او دا به ښکاره کړم چه د کوم مفهوم د پاره استعمالیږی او څوک یې د چا د پاره استعمالوی؟ نو که چېرې په دې

---

(۱) د پوهاند رشتین درسی یا د داشتونه.

(۲) پښتو اشتقاقونه ـ د پوهاند رشتین تألیف.

کښې داسې اصطلاحات راشي چه هغه دګرانو لوستونکو په سیمه کښې موجود نه وی او یا داچه ددوی په محیطونو کښې دهمدې مفهوم دپاره بله اصطلاح موجوده وی؛ بنایی چه ګران لوستونکی ماوبښي. اودا چه ددوی په سیمو کښې د همدې مفهوم دپاره نورې اصطلاح ګانې موجودې دی، داهم دپښتوژبې پراختیاراښیی چه دیو مفهوم اومقصد د پاره ډېرې اصطلاح ګانې لری.

دا اصطلاح ګانې ما دپکتیا دژرملې دعمومی محاورې له لړی نه راویستلې دي او په لاندې ډول بیانیږی:

ا- دتارسی دماغاړه

یا: ستا رسی اوزماغاړه

په دې اصطلاح کښې دومره قوت اوبرکت پروت دی چه سړی ورته حیرانیږی. ددووکسو په منځ کښې دښمنی، بدی، شخړه، نفاق، کینه او خوابدی داسې بوچی غوڅوی لکه چه څوك یوه تنکی لښته په چاړه غوڅه کړی.

په دې اصطلاح کښې یوهه، دنظر پراخی، اخلاق، سوله، امنیت، خیر خواهی او په ښای کښې انسانیت پټ دی.

داهغه وخت استعمالیږی چه دوه کسه سره مرور وی یا یی په منځ کښې دښمنی او کینه موجوده وی، نوطبعاً په دې دووکسو کښې به یوګرم اوبل ناګرم وی.

هغه ګرم اوملامت سړی ناګرم ته ورځی اوورته وایی «ستارسی زماغاړه» یعنی مطلب دا چه ګرمه یی ومنله او په ټوله معنا ورته تسلیم شو اودې ته یی هم لاغاړه کېښودله چه که هغه بل سړی دده په غاړه کښې رسی هم واچوی او کشوی یی، دی یې منی.

پخوا چه په پښتنو کښې دښمنی موجودې وې، کله به چه یوچا دبل سړی ور ور یازوی اویا کوم بل خپل وواژه، نو به ورغی اوورته وبه یې ویل: «ستارسی اوزما غاړه!» نوهغه به دده له ګناه تېرشو.

اوس هم کله چه څوك له یو پښتانه سره بدوکړی یا یولوی ضرر ور ورسوی، که ورته ووایی چه: «ستارسی اوزماغاړه:» زه دایقیناً ویلای شم چه هغه به خامخا دی عفو کړی په دې باره کښې یوه پېښه لیکم چه ما په خپلو سترګو لیدلې ده:

یوه ورځ په زرمل کښې دچاواده ؤ اوخلکو دټوپکو ډزې کولې یو سړی په توپك کښې مړدك کېښود او د توپك خوله یی کښته نیولې وه. کوم وخت یی چه ډزوکړ، نو په یوځوان هلك ولګید او زخمی شو څوورځې وروسته هغه هلك مړشو اوکوم وخت یې چه ښخاوه؛ هغه قاتل ورغی اودمقتول پلارته یې په هدیره

کښې وويل: «ستارسی اوزماغاړه!»، زه هلته حاضروم چه دهلك پلار په ځواب کښې ورته وويل: «که څه هم زما دزوی دادناورين مرګ به ماتر مرګه پورې په عذابوی، مګرچه تاعذر وغوښت او په خپله ګناه دې اعتراف وکړ اوماته دې پناه راوړه، نوزه ستاله ګناه څخه تېريم، ځه! ما بخښلی يې!!» دلته يوه خبره ديادولو وړده او هغه داچه ښايی ځينی ګران لوستونکی په ما انتقاد وکړی او ووايی چه داخودې نوهر سړی راولاړ يږی، يو پښتون ته دې ضرر ورسوی او بيا دې ورته وايې: «ستارسی او زما غاړه!» نوهغه دده له ګناه څخه تېريږی؟

په ځواب کښې به ووايو چه ضرر ترضرره فرق لری يا بايد ضرر سهواً وی او يا داچه بايد په عمر کښې يو ځل وی. نه داچه يو سړی دې څو څو ځله بل ته ضرر رسوی او يا دې هر سړی بل ته ضرر ورسوی او بيا دې له دې اصطلاح څخه بده فايده اخلی!!

۲- له خپلې شړۍ سره پښه غځول

دا اصطلاح دهغه چا په مقابل کښې استعماليږی چه هغه له سره پورته کارونه کوی، يعنی داسې کارونو ته لاس اچوی چه دده له قوت، قدرت او سويې څخه پورته او لوړ وی، او داسې کارونه چه دده له شان سره نه ښايی.

دا رنګه سړی خلکو ته داسې بريښی چه له خپلې شړۍ سره پښه نه غځوی او هغه کارونه کوی چه دده په وس کښې پوره نه وی او پخوا له دې چه دهغه کارد کولو لياقت په ځان کښې پيدا کړی، هغه ته اقدام کوی.

په انګليسی کښې هم يوه اصطلاح شته او هغه Pre mature activity ده، او هغه څوك چه پخواله وخته کارونه کوی، Pre mature active بولی. ددې اصطلاح استعمال داسې دی:

«له خپلې شړۍ سره پښه غځوه؟» يعنی لويو خابښونو ته لاس مه اچوه. پلانی له خپلې شړۍ سره پښه نه غځوی.» يعنی لويو خابښونو ته لاس اچوی.

ځينی خلك په دې اصطلاح کښې د (شړۍ) پرځای (ګليم) راوړی او وايی: «له خپل ګليم سره پښه غځوه!» يا «له خپل ګليم نه پښه اوږده مه غځوه!» او چه کلمه سره تخفيفه شی نو د (خپل) لفظ نه راوړی او وايی:

«له شړۍ سره پښه غځوه!» يا «له ګليم نه پښه مه باسه!» مګرزما په خيال له (ګليم) څخه (شړۍ) ښه ده ځکه چه پښتو کلمه ده.

۳ـ دسري او ترې جوړول

دا دجنجالونو دلرې کولو په وخت کښې استعمالیږی . که یو سړی وغواړی چه ددوو کسو په منځ کښې جنجال او مخالفت ورك کړی او دې برخلافی ته بد ووایی یایی دوام او داتلونکی ضررونه ور په ګوتو کړی ، نو ددوی دوام دار جنجال او برخلافی دسري له اور سره تشبیه کوی او ورته وایی :

«دسري اور مه ترې جوړ وی؟» یعنی دوام مه ورکوی، چه لکه د سری اور داسې تل دوګیږی .

«دسري اور موترې جوړ کړ؟» یعنی برخلافی او جنجال مواوږد کړ .

۴ـ لوی دستر خان لرل (۱)

دا اصطلاح دسخی او مهلمه پال سړی دپاره راځی ، او (لوی دستر خان لرل) له ډېر و مهلمنو پاللو څخه کنایه ده . دې ته دبیان په علم کښې (بعیده کنایه) وایی ځکه چه مفهوم یې ډېر لیرې وی او له یو لړ مرحلونه وروسته ذهن ته انتقال کوی مثلا :

۱ ـ په لوی دستر خان کښې ډېره ډوډی ځایېږی .

۲ ـ ډېره ډوډی ډېر مهلمانه غواړی .

۳ ـ ډېر مهلمانه لرل په سخاوت او مهلمه پالنه دلالت کوی .

نو دلوی دستر خان خاوند ، سخی او مهلمه پالونکی دی . هغه څوك چه سخی وی او هر وخت ډېر مهلمانه لری ، نو خلك وایی : « پلانی لوی دسترخان لری ! »

۵ـ بردن برمه کول

کله چه کوم سړی ډېر سخت او مشکل کارونه سرته رسوی ، نو دااصطلاح د هغه دپاره استعمالیږی .

بردن ته په فارسی کښې (ارزن) وایی او یوه ډېره کوچنی دانه ده . ددې دانې برمه کول ډېر سخت وی حتی برمه کول یې هیڅ امکان نه لری ترڅو هومره کوچنی او حساسه برمه موجوده نه وی . نو ددې سړی کارونه ځکه دبردن له برمه کولو

(۱) دا اصطلاح دښاغلی عبدالشکور رشاد دادبیاتو پوهنځی دادبی فنونو د استاد په درسی نوټونو کښې هم راغلی ده او موږ یې په شرح کولو کښې له هغو نوټو هم اخستنه کړې ده .

سره تشبیه کیږی چه هغه ډېر ځیرکی او رسا ذهن غواړی . دسختو کارو کول یعنی هغسې کارونه سرته رسول چه هغه ډېره ځالاکړ او استادی غواړی ، دبدن له برمې کولو سره تشبیه کیږی .

دا اصطلاح دهغه چا دپاره هم راځی چه هغه تل دمال او دولت جمع کولو او ټولولو په فکر کښې وی او په (ورکړه = ښندنه) کښې سوګت وی .

دداسې خلکو په باره کښې نور خلك وایی : «پلانی او پلانی بدن برمه کوی.»

«پلانی ډېر سراښ او خسیس دی ، بدن برمه کوی . » «پلانی بدن برمه کوی» یعنی خسیس او مشکل تراش دی . «بدن مه برمه کوه ! » یعنی سراښ او مشکل تراش مه اوسه .

٦ـ ترسوری تیږ ې وتل (۱)

دا اصطلاح هغه وخت استعمالیږی چه خلك دیو داسې سړی په باره کښې بحث کوی چه هغه په زحمتو ، غمونو ، دردونو ، مشکلاتو او تکلیفونو کښې لوی شوی وی یعنی دپښتنو په اصطلاح ، هغه څوك چه تر ډېرو لویو ویالویې ټوپ وهلی وی او کوچنی ویالې ورته اسانې وی ، او دزمانې ډېرې خوږې ترخې یې څکلی او لیدلې وی او بالاخره یو تجربه کار سړی ترې ختلی وی .

کله چه په داسې سړی باندې بیا کوم درد او غم راشی او دی په هغه حال کښې خپل فکر او حواس له لاسه ورنه کړی او په ورین تندی او سړه سینه یې استقبال کړی ، نو خلك وایې : «پلانی ترسوری تیږې وتلی دی ! »

یعنی سختی ور باندې تېرې شوې دی او اوس کومه سختی او مصیبت تأثیر ور باندې ډېر نه لری ، او ځان یې له خپله واکه نه وځی .

۷ـ ابن ده لاسو نه لرل

دا اصطلاح هم دهغه سړی دپاره استعمالیږی چه (قوت او قدرت) لری او ډېر لوی لوی کارونه کوی .

هرڅوك چه په قام او حکومت کښې منلی وی او په ډېرو کارونو کښې یې څوك مخه نه شی نیولای ؛ نو خلك وائی : «پلانی او بده لاسونه لری.»

---

(۱) په دی ځای کښې نور پښتانه وایی فلانی دژرندې سپږی ده یعنی له سلو ژرندو وتلی دی .

یعنی لکه سیند بی لاري خپل هدف ته در ومی او داوبو دجریان په خلاف په سیند کښې مخ په پورته روان دی.

۸ـ ځان په لویه لوټه خیژول

دا اصطلاح دهغه چاد پاره راځی چه کلان کاری کوی او ځان ستراولوی ښیی. مثلا کوم وخت چه دد وو کسو په منځ کښې خوابدی او شخړه پیداشی او یوسړی وبل ته ووایی چه: «ته ما پیژنې که نه؟ کار به دی وکړم. والله که به دې پرېږدم!» نوهغه بل سړی ورته وایی: «دومره ځان په لویه لوټه مه خیژوه، ښه دې پیژنم چه هیڅ نه یې!» یا مثلاً کوم وخت چه یوځوک بل چاته ووایی: «پلانی کار ماته ډیر اسان دی او ما داسې ډیر کار ونه کړی دی.» نوهغه بل ورته وایی: «ځان په لویه لوټه مه خیژوه، داسې کاوونه ستا په وس کښې نه دی پوره:»

لنډه داچه (ځان په لویه لوټه خیژول) یعنی د ځان ستاینه کول ځان په نورولوړ بلل اوله شړی نه پښه ویستل.

۹ـ په لار کښې اغزی ورته اچول

په لار کې اغزی ورته اچول، یعنی یوسړی ته مشکلات وړپیدا کول.

کوم وخت چه یوسړی د بل د پاره ځنی مشکلات راپیدا کوی او یا ځوک ورته لمسوی، نو دا اصطلاح هغه وخت استعمالیږی او وایی: «احمد، محمود ته په لار کې اغزی اچوی» یعنی په سختیو یې اخته کوی.

«په لار کښې یې اغزی ورته واچول» یعنی په مشکلا تو یې اخته کړ او د بلا په خوله کښې ئې یې ورکړ.

په دې باره کښې یومتل هم شته او هغه داچه «دچا په لار کښې اغزی مه اچوه ستا به پرې لار شی!» ـ مرحوم عبدالرحمان بابا وایی:

«کرد ګلو کړه چه سیمه دې ګلزار شی
اغزی مه کړه په پښو کښې به دې خار شی»

دپورتنی اصطلاح، متل او بیت مفهوم په لاندینی حدیث کښې پروت دی:

من حفر بئراً لاخیه فقد وقع فیه.

دهمدې مفهوم د پاره په پښتو کښې یو بل متل هم شته، هغه دادی:

«دچا ورمه وهه په ګوته، ور به دې ووهی په لغته.»

په فارسي کښې، سعدی صاحب دامفهوم دالفاظو په قالب کښې داسې راوړی:
همینت پسند است اگر بشنوی اگر خار کاری سمن ندروی.
یو پښتون شاعر وایی:

داجهان په شان د غره دی زموږ فعل دی او از
څه چه وا یو هغه او رو هغه دم په هغه راز.

۱۰- لور په لوټه تیرول

دا اصطلاح هغه وخت مصداق پیدا کوی او استعمالیږی چه یو سړی په کوم کار کښې ناغیړی کوی او دهغه کار په کولو کښې خپله نارضایی څرګند وی.

په دې باره کښې د پښتو یوه مقوله هم شته: «د لوګری چه رضا نه وی، لور په لوټه تیروی.» لیکن د دې مقولې ور وستنی برخه د اصطلاح په توګه استمالیږی.

مثلا: «لور په لوټه مه تیر وه» یعنی ناغیړی او ناراستی مه کوه، او کار په چالاکی سره کوه. «لور یې په لوټه تیراوه.» یعنی د کار په کولو رضا نه وُ سست سست لګیاؤ او ناراستی یې کوله....

۱۱- خرله خټې پورې ویستل

خرله خټې پوری ویستل، یعنی خپل کار کول او له سختیو، محتاجی او زحمته ځان خلاصول، په دې اصطلاح کښې دامفهوم هم پټ دی چه یو معمولی کار کول نه یو فوق العاده کار.

هر سړی چه تل خپل کار په خپل وخت کوی، له اړتیا او مشکلاتو ځان ژغوری نو دا اصطلاح دهغه د پاره راځی. «محمود خپل خرله خټې پورې باسی.» یعنی خپل کار کوی او له محتاجی ځان ژغوری یا، یو محض کار کوی چه ډېر فوق العاده نه دی.

«زه خپل خرله خټې پورې باسم.» «احمد غواړی چه خپل خرله خټې پورې باسی.» «ټوله ورځ مې کار کاوه او بېګاته مې په مټ خواری کښې خرله خټې پورې یوست.» یعنی ټوله ورځ په کار بوخت وم او بېګاته مې هسې سر ځنی ویوست.

۱۲ـ سوك تر کټوې سره کیښل

دا اصطلاح هم هغه وخت استعمالیږی چه ددو کسو تر منځ یعنی ددوو ملګرو ترمنځ شخړه پېښه شی او مناسبات یې سره وشلیږی .

نوله هغو د و کسو څخه یو وا یی ! « سو ك مو تر کټو ې سره و کیښل . » یعنی دوستی مو سره خرا به کړه ، منا سبا ت اوروابط موسره وشلول .

یاد دوی په غیاب کښې نور خلك وایی : « کریم اوشریف سوك تر کټوې سره وکیښ » یعنی سره خپه شول او دوستی یې سره پرې شو ه .

کله چه سړی په کټو ه کښې کلك کلك لاس وهی اولاس ئی د کټو ی له بېخه هغې بلې خواته ووځی ، نو کټوه نوره له کاره ووځی . همداډول ددوو دو ستانو تر منځ هم چه مناسبات سره وشلیږی ، دوستی نو ره له کاره و و ځی او څه مزه پکښی نه پا تیږ ی .

پیغله (نا نسی) په پښتنی کالیو کښې

پیغله (نا نسی کو) یوه چینی هنرمنده ده . نو موړی پیغله چه له پښتنی ثقافت سره زیاته علاقه لری دایی چه افغانستان زمادوهم کوردی . (نا نسی) په هغه میلمستیا کښی چه دافغانی سفارت له خوا دافغانستان دخپلواکی دجشن په ویاړ ترتیب شوې وه ، گډون درلود . (نا نسی) وویل : « زما په فکر که چیری په نړۍ کښې کوم امید موجود وی، هغه به دخلکو ترمنځ مینه وی . »

نو موړی عکس پیغلې نا نسی له لندن څخه دکابل مجلې د پاره رالیږلی دی . تل دې خوشحاله او نیکمرغه وی . (اداره)

نومیالی دیوان

محمد مؤمن پټوال

خوشال بابا او دملیت احساسات

دري سوه کاله پخوا د پښتو ژبې لوی او ستر شاعر خوشال خان خټک د افغانیت په نامه د پښتو او پښتونولۍ سند رې شروع کړې، او د شعر سره یې د ملیت احساسات او جذبات ملګری کړل، دا یو لوی ادبي تحول ؤ چه په پښتو ادب کښې همدغه نوموړی شاعر راووست، او د شعر مخه یې یوې ډېرې مهمې اجتماعي موضوع ته راوګرځوله هغه وخت چه د ملیت احساس په دغه ډول ځان نه ؤ ښکاره کړی او مستقل وجود یې نه درلود، په شرق کښې لا څه چه په غرب کښې همدا فکر غریب شانته ؤ او د نړۍ ډېر اولسونه ورسره نا اشنا ؤ، په ځینو اولسونو کښې که د اجذبه لږه ډېره موجوده وه نو صحیح تعبیر او تفسیر یې نه ؤ شوی، او په نورو جذباتو کښې ورکه وه. د خوشال خان

نبوغ او عبقریت همدغه دی چه له نورو نه ډېر پخوا د ملیت په مفهوم او معنی پوه شوی ؤ او د خپلو اشعارو په مرسته یې د ملیت نیلې اوریښې په پښتو ادب کښې ټینګې کړې. ترخوشال خان دمخه که څه هم میا روښان او دهغه زامنو څوځله پښتانه له مغلو سره دملی ازادۍ دپاره وجنګول، مګر هغه جنګونه په پټه خوله وو او د افغانیت په نامه کوم ادبی تحریك ور سره ملګری نه ؤ سربېره په دې د جنګ او جګړې مشرانو هم ظاهرآ روحانی بڼه درلوده او د پیرۍ په رنګ کښې وو. دا یوازې خوشال خان ختك ؤ چه په ملی رنګ کښې میدان ته راووت او لومړی ځل یې په لوړ او جګ آواز داسې وویل:

درست افغان ترکندهاره تراټکه سره یو د ننګ په کارپټ او آشکار

دا ملی اعلامیه د پښتو او پښتو نولۍ، درون ګڼیځ لومړی اذان ؤ چه دیو او بل غوږ وته ورسېد، او د ملیت مزی یې خلکو ته په لاس کښې ورکړ.

ده په خپلو اشعارو کښې د افغانی ننګ او غیرت خبره ډېره ځېړلې ده، او په شعر او شاعرۍ کښې یې همدغه لوی ملی مقصد پا له، او غوښته یې چه د افغانیت جذبه په ډېر قوت راژوندۍ کړی. دده ذوق، دده فکر او دده احساس په همدغه نقطه کښې تمرکز موندلی ؤ او دا مضمون یې په هر رنګ کښې دخلکو غوږونو ته رساوه. دده په اشعارو کښې رقیق او پاسته احساسات نشته، دده شاعری ډېره توریالۍ او ننګیالۍ شاعری وه چه په عشقی غزلو کښې یې هم د توري بر ېښن ځلیږی، او په اکثره غزلو کښې دعشق او مینی سره ننګ او غیرت ګډوی لکه چه خوشال خان په خپله وایي:

آفرین دې په ویلوشه خوشحاله چه دتورې رژول کړې په قلم کښې
دی په رښتیا دتورې برېښ اوغوڅه په قلم کښې رژوی، او دشعر
مصرع یې لاډیره تېره ده. د همدغه خصوصیت په وجه دده اشعار
په ویونکو کښې لوړ همت، زړورتوب، عزم او ثبات، ملي غرور،
دوطن مینه، ننګ اوغیرت پیداکوی اودانتقام جذبه پکښې روزی.
دی دخپل وخت ضرورت ته ګوری او پښتنو ته داسې تلقین کوی:

که په توره یې ځواب ورکړی مردی ده
که وجوددې څوك آزار کاندې په چوب

په ده باندې دافغانی ننګ او غېرت جذبه دومره غالبه وه
حتی چه دخپل نازولی زوی په ویراوژړاکښې یې هم دغه مضمون
نه دی هېرکړی اودهغه په دردناکه مرثیه کښې داسې وایی:

کاشکی ځوان دپښتانه په ننګ کښې مړوای
نه چه ګور لره روان شو له تلتکه

زامن خوبه دډېروشاعرانو مړه شوی وی او دغسې ډېرې له غم
اودرده ډکې مرثیې به نوروشاعرانو هم ویلی وی، مګردا ارمان
به چانه وی کړی چه کاشکی په برستن کښې نه وای مړ، او دقام
په ننګ کښې مړشوی وای.

خوشال خان دیومعلم اومربی په حیث پښتنو ته دخودی او لوړ
همتی درس ورکاوه اودمشکلاتو په مقابل کښې یې ددوی عزم او
اراده ټینګوله، اوداتلقین ده په هرراز او دستور، مستقیم اوغېر
مستقیم ډول کړی دی اوکله یې ستوغې سپورې هم ویلی او پښتنو
ته یې ډېرې طعنې ورکړې دی دده د دغسې اشعارو ځینې نمونې
دادی چه په لاندې ډول وړاندې کېږی دی وایی:

خو وانخلی له غلیمه انتقام
مردنه خوب کانه خواره کا نه آرام
چه د ننگ او د ناموس اندوه یې نه وی
د هغه سړی به څه وی احترام
که همت او حمیت غیرت پکښې وی
تر څښتنه بهتر و ګڼه غلام
دمردی د نامردی تر منځ میل نه دی
تفاوت یې په ذره دی یا په ګام
چه د بل تر لاسه ورغی د بل شو
مرد به خپل لری د خپل فکر زمام

خوشال خان په یو بل ځای کښې دلویی او لوړ همتی په باب پښتنو ته داسې توصیه کوی او وایی :

که لویی غواړې هنر دلویی زده کړه
بې زینې دی په محل خا ته محال
د سړی لویی په رنګ په پسا له نه ده
په همت ده په هنر ده په خصال
که په نحسه طالع بند شوم عیب یې نشته
کله کله تندر هم نیسی هلال
که هزار کاندی پښتون مغل به نشی
بو یه داچه له زړه وباسی د اخیال

خوشال خان په یو بل ځای کښې په فخریه ډول خپل شجاعت او شهامت، زړه ورتوب او دلاوری ستا یی او په دغه ضمن کښې د پښتنو بې همتی ته داسې اشاره کوی او وایی :

هر ملخ د سر باز یه هنر څه زده
چه په داهنر کښې سربښندی پتنګ دی
لاتراوسه یې ماغزه په کرار نه دی
چا چه ماسره وهلی سر په سنګ دی
لا په خوب کښې په لړزه پریوزی له کټه
چه دچاتر غوږ زماد تورې شر نګ دی
که په دادو رمې ګو رې هغه زه یم
چه مې داغ په خاطر ایښې داور نګ دی
درست جهان مې و مغل وته خیبر کړ
ځای په ځای یې پښتانه وته قلنګ دی
ځینې څه لویې دعوې لرم په زړه کښې
ولې څه کړم چه پښتون واړه بې ننګ دی

خوشحال خان دخپل وخت له ځینو پښتنو نه ډېرې شکوې او ګپلې لری اګر چه دهغوی ډېر والی او دهغوی دهستو ګنې ځای ډېر پراخه او ارت ښیی مګر بیاهم سره ددومره ډېر والی او ار بې سیمې چه پښتنو لرلی دی یې عبث بولی لکه چه په خپل یو شعر کښې یې داسې بیانوی او وایی :

باد شاهی یې د مغل پهٔ زرو بایله
د مغل د منصبو نو په هوس دی
اوښ له باره په خپل کوردی ورغلی
په ولجه د اوښ د غاړې دجرس دی
بې ننګا ن د بې ننګیه کارو بار کا
ننګیالی د ننګ په کار کښې هر نفس دی

سر یې هورې قندهار بل یې د مغار دی
تر دا منځ همه میشته واړه عبس دی

خوشال خان په خپل یو بل شعر کښې د مغلو کمزوری ښیی لا کن د قلم یا دونه یې کوی او دهغوی چال ، فریب دام ایښودل پښتنو ته او په خپل ځان باندې دخدای کرم او احسان د مغلو چال او فریب تأثیر نه کول داسی څرګندوی او وایی :

مغلو ته چه ګورم هغه هسې مغل نشته
د تورې وار یې تېر دی اوس ور پاتې یو قلم دی
پښتون په زرونیسی په فریب په ټیټالونو
په ما یې اثر نشی یو په ما دخدای کرم دی

خوشال خان په یو شعر کښې وایی که کرار کښینم نو نوم او ناموس ځی ، او که کرار نه کښینم نو توفانو نه پیدا کیږی او په همدغه شعر کښې د خپلو زامنو څخه ګېلې او شکوې کوی او د خپل یو زوی په باب کښې داسې وایی :

تر څلو یښتو کالو تېر باندې څرخ نشو پیکان
هنګامه ده لا په منځ کښې د مغل او د افغان
زه په لویو اندېښنو کښې دی په کور کښې دی غران
چه له ده سره بدی کا پرې رحمت کا مغلان
دی لا هر څه ورته وایی ور سره شی فارسی خوان
چه مې وار ور باندې سازشی بیار اوړاندې کا دوستان
که کښینم نام و ناموس ځی که پاڅم پاڅی طوفان

دا راز خبرې اترې چه افغانی احساسات خو زوی او پا روی یې ، او په پښتنی روح برابرې دی د خوشال خان په دیوان کښې

ډېرې زیاتې دی چه د ده دشعر او شاعرۍ اساس یې ګڼلی شو.
دخوشال خان ملی شخصیت او دملیت پالنو جذبات دده په اشعارو کښې د بصیرت خاو ندانو ته له ورایه معلومیږی لکه چه وایی:

په خپل نام او ننګ چه راشم لیو نی شم
خبر دار کله په سودا و زیا ن د لك یم
چه پـه تمه د ا و ړ و ځغلی و شست تـه
ګمـان مکـړه چه هغه نـا د ا ن سمك یـم
هیڅ له قـدره مـې و ګـړی خبر نـه دی
که رښتیا وایم د ستر ګـو مـر دمـك یم
لکه باز پـه لوی لوی ښکار زما نظر د ی
نه چه ګرځی ګو نګټ نیسی بادخورك یم
چه نیولی مې دا هو ډ د نام او ننګ دی
کـه د خپلـه هـوډه واوړم کنیز ك یـم
د ا فغا ن پـه ننګ مـې و تـړ له تـو ر ه
ننګیالـی د زمانـی خـوشـال ختك یـم

خوشال خان ختك د پښتو ژبې دادب د میدان یوغښتلی پهلوان او د ختکو د ښ یو خشنوا بلبل دی. پلار یې شاه باز خان نومیده چه د ختکو مشر او سردار ؤ. خوشال خان په ۱۰۲۲ هجر ی او په ۱۶۱۳ عیسوی کال کښې د ختکو په سرای کښې دوجود ډګر ته راغی هغه وخت چه لوی شو نو دشاعرۍ هنګامه یې جوړه کړه، دی په رښتیاچه یو قومی او ملی شاعرؤ، د وطن او قوم په غم غمجن او د پښتنو په درد درد مندؤ، په دې لار کښې یې ډېر زحمتونه و ګالل په کلك او ټینګ عزم یې د ملت او قوم د لویی دپاره دوینو سره

لو بې وکړې ، دپښتون په ننګ يې توره تر ملا و تړله ، دزمری په خوله کښې يې خپل همت پرې نښوده دملت ساتندوی ، دپښتونوالی ګټندوی ، او د پر دو دښمن معرفی شو . ځی کاله په هندوستان کښې بندی ؤ کله چه د بنده څخه خلاص شو نو بیا يې دمغلو سره دپرې جګړی وکړې او داورنګزیب پاچا سره يې تر مرګه د ښمنی لرله . خوشال خان دتورې سره قلم هم په لاس واخیست دشعر او شاعری بازار يې تو د کړ ، دا باسین په شان په څپو راغی ، د جنګو نو او جګړو حالات يې بیان کړل ، دپښتونوالی درانه خویونه ، پاك اخلاق او دژوندانه د کړن لار يې و ښودله ، د اجتماعی حیات په مزه يې خلك پوه کړل ، پښتانه يې د قوم اوملیت خدمت ته راوبلل ، دتصوف او سلوك علم او فلسفې په خوا کښې هم لګیا شو لنډه د ا چه هیڅ قسم مضمون يې پرې نښود . عشقی ، اخلاقی ، اجتماعی ، وطنی ، فلسفی ، تصوفی ، جنګی ، فکاهی او نور هرقسم مضامین يې دشعر په لباس کښې ونغښتل ، دهر چا د ذوق د پاره يې پـه خپل باغ کښې رنګا رنګ ګلان وکرل ، د خبرو ملك يې فتح کړ او د پښتو د ادب استاد او يو نومیالی ادیب وپیژندل شو . دده له شعره پښتو ژبه په آب و تاب شوه او د بلبلو د نارو دپاره يې د خبرو او وینا باغ جوړ کړ لکه چه په يو شعر کښې دی په خپله وایی :

ما خوشحال چه په پښتو شعر بیا ن کړ
د پښتو ژبه به اوس په آب و تا ب شی
همیشه به پـرې نـا ر ې وی د بلبلو
دا چه ساز کړ نن خوشحال په ویل با غ

غرض دا چه خوشال خان ختك دپښتو دادب يو لـوی ادیـب ،

تکړه شاعر، د ملیت پټنګ، د پښتو نوالی لیوال او زبر د ست مفکر ومنل شو د خپلو پردو، د لویو او وړو په ذهنو کښې د ده شهرت ښکاره شو.

د یورپ خلکو ورته د یو ملی قومی شاعر خطاب ور کړ. د خوشال خان د خپلې وینا څخه معلومیږی چه دی د شلو کالو ځ چه په شعر ویلو یې شروع وکړه نو دده شاعری له ۱۰۴۲ هجری څخه شروع کیږی.

دی د مغلو په خلاف په ۱۰۸۳ هجری کښې جنګونه شروع کوی او دده زوی بهرام هم د مغلو په لمسون له خپل پلار سره د دشمنی کوی. چه حکومت پردی وی د سړی خپل زوی هم پردی کیږی او پردی سیاستونه اکثراً ورور په ورور وهی د خوشال خان هغه مشهوره قصیده چه مقطع یی دا ده.

د افغان په ننګ مې وتړ له توره
ننګیالی د زمانې خوشحال ختک یم

دهمدغه وخت سندره ده. بنایی دلته دا سوال پیدا شی چه دغه ملی احساس خوشال خان ته څنګه پیدا شو او کومو شیانو دده فکر او نظر دغې خواته راوګرزاوه، د دې پوښتنې ځواب دادی:

خوشال خان په لومړیو وختو کښې د شاه جهان یو وفادار ملګری ؤ خوشال خان د شاه جهان د پاره په مشرقی پنجاب کښې د راجا جګت سنګ سره هم جنګ وکړ او خپله مېړانه یې ډېره ښه ښکاره کړه وروسته تر هغه ده د بلخ او بدخشان په پیښو کښې هم د دغه حکومت له پاره مهم خدمتونه وکړه د خوشال خان پلار نیکه غور نیکه هم د مغلی حکومت وفادار وو. جلال الدین اکبر په ۹۸۹ هجری

کښې د خوشال خان غور نیکه ملك اکوړی ته د خیر آ باد نه تر نوښاره پورې علاقه ورکړه او د دغه علاقې ټول اختیار یې هغه ته وسپاره ، وروسته تر هغه دخوشال خان نیکه او پلار یحیی خان او شاه باز خان هم دجهانګیر او شاه جهان له طرفه ددغې علاقې واکمن وګڼل شول او په خپله سیمه کښې د اولس مشران وو کله چه دخوشال خان پلار مړ شو نو شاه جهان ده ته په هماغه ستر ګه کتل او خوشال خان هم د هغه په امر هر خدمت ته تیار ؤ په ۱۰٦۷ هجری کال کښې چه شاه جهان په ناجوړه اخته شو او د هغه زامن دپاچاهۍ ګټلو دپاره یو له بله په جنګ او جګړه ونښتل په نتیجه کښې او رنګزیب بریالی شو او خپل پلار یې ددې له امله چه د ده دورور داراشکوه طرفدارؤ بندی کړ او داراشکوه یې وواژه او خپل دوه نورورو نه یې ورك کړل په دغه حال کښې خوشال خان د اورنګزیب ملګری ؤ وروسته داورنګزیب د بری او کامیابۍ څخه خوشال خان تیراته هم ولاړ او دهغه دمخالفینو سرکوبی یې وکړه پس له هغه بیا د اورنګزیب په طرفدارۍ دده له مخالفو سره په جنګ او جګړه اخته شو ، سره له دغو ټولو خدمتو نو بیا هم خوشال خان په ۱۰۷۴ هجری کال کښې د سید میر په اشاره چه په کابل کښې داورنګزیب والی و، په چل او فریب ونیول شو او بیا یې ډیلی ته بندی ولیږه دهمدغه وخت او نیټې څخه دخوشال خان د کورنۍ ۸۵ کلنه دوستی او وفاداری چه له مغلی دربار سره یې ساتلې وه په ډېرې سختې دښمنۍ بدله شوه او خوشال خان داورنګزیب دښمن شو .

کله چه اورنګزیب خوشال خان په ډیلی کښې بندی کړ او هغه یې هلته وساته نو دده کورنۍ یې دیر غمل په ډول ډیلی ته وروغو ښتله

مګر دخوشال‌خان کور او کهول یو سفزو وساته او حکومت و نشو کولای چه دخوشال خان کور نی ډیلی ته بوځی او یوسف زی دخوشال خان په بده ورځ پکار شول .

د خپلو او پردو دومره فرق پر خوشال‌خان باندی ډیره اغیزه وکړه او دی یې داسې راویښ کړ چه په هیڅ راز تعلیم او زد کړه د غه راز پوهه نه حاصلیده . خوشال‌خان په ډیلی کښې دوه نیم کاله په زندان کښې تیر کړل او بیا څه وخت نور هم په هند کښې نظر بند پاتې شو . ده خپل ډیر شعرونه په بند او نظر بندی کښې ویلی دی او خپل اکثر حالات یې په خپلو اشعارو کښې بیان کړی دی ، دغه بندی توب په خوشال‌خان باندې ډیره سخته اغیزه وکړه او دده په روح کښې یې دانتقام سوزنده جذبه پیدا کړه . خوشال‌خان طبعاً آزاد فطرته شاعر ؤ او پـــه داسې کورنی کښې لوی شوی ؤ چه په خپله سیمه کښې یې آزاده حکمرانی لرله دخوشال‌خان شخصیت هم داسې راغلی ؤ چه دذلت اوخواری ژوندپه ده باندې له نورونه ډیر سخت تیر پده ، او له بلې خواده په ځان کښې دحکومت په نسبت هیڅ ګناه نه لیدله او د خپلو خدمتونو په مقابل کښې ورته دغه رویه ډیره بده او ستوغه معلومیده نو دغه راز عوامل ددې باعث شول چه په ده کښې یې یو ډیر لوی فکری انقلاب را پیدا کړ او دپردی حکومت اصلی حقیقت و ر ته دتجربې په هینداره کښې پوره معلوم شونو دی په همدغه وجه وایی :

که هزار کاندې پښتون مغل به نشی بو یه داچه له زړه وباسی داخیال

خوشال خان په زندان کښې یوازې او ځانله خپله آینده سنجوله او له ځانه سره یې په شپوشپو یو فکر کاوه په نتیجه کښې پس له ډیرو فکرو یې دا فیصله وکړه :

پس له بنده دی داعزم د خوشحال دخاطر جزم

یا نیولی مخ مکې ته یا مغلو سره رزم

دهمدغه عهداوپیمان په اثر کله چه دی بیرته خپل هیواد ته راغی نو د ده په دماغ فکر او احساس کښې داسې بدلون راغلی ؤ چه ترمرګه یې له مغلو سره جوړه را نغله او دمړینې په وخت کښې یې هم داوصیت وکړچه ما په داسې ځای کښې ښخ کړی ؛ چه دمغلو داسو نو دپښو ګردونه زما پر قبر پرې نه وځی . کله چه خوشال خان د بنده خلاص شو او کو رته راغی نو مغلی حکومت دا په ټینګه غوښتل چه په څه چال او فریب خوشال خان تېر باسی او دی بیا په خپله ګټه له یوسفزو سره وجنګوی نوددغه عالی مقصد دپاره یې خوشال خان ته لوی منصب او دیوسفزو دعلاقې حکمرانی ور وړاندې کړه مګر دی وروسته تردې نو رونه غولېده او په خپله مخکینی سهوه یې پښیمانی کوله لاسونه یې مروړل او په دغسی ټیټه سوداقانع نه شو ځکه چه له ده سره دغه وخت یوازې دځان سودا نه وه او په ډېر ولویو فکر او لویو اندیښنو کښې ؤ کله چه مغلی حکومت دخوشال خان څخه بیخی نا امیده شو نوددده زوی بهرام یې په لاس کښې ونیو او د پیسو په زوریې دپلار په مقابل کښې ودراوه . همدغه دخوشال خان مخالفت ؤ چه او ر نګزیب ډېر پښتانه په پیسو ، چال او فریب دځان ملګری کړل .

دخوشال خان ددیوان له مطالعې څخه دا خبره ښه معلومیږی چه دی ډېر زیات روحی او نفسی قوت او قدرت خاوند ؤ چه په ډېر و سختو احوالو کښې یې دده اراده نوره هم ټینګه وله دی په خپل یو شعر کښې خپل ډېر بدحال او د بدو پیښو په مقابل کښې خپل ټینګار داسی بیا نوی او وایې :

زما نې د ښو یار انو نه مهجور کړم

په بلا یې مبتلا په ډېر ضرور کړم

او س په ماد خوشحالیه نوم جوړ نه دی
چه د اهسی زمانې له غمه پر کړم
ما وی پرک به سره وچوم له غمو نو
ولی لاتراوسه پایم خدای صبور کړم
اشرف خان په ناپوهی په غمو و نښت
زه دده غمونو لاپه زړه ر نځور کړم
جدایی د صدر خان لکه سور او روه
که دواړو فرزند انو غم چور چور کړم
هغه وخت مګر دخدای په وعده راشی
چه به بیاله خیل خانې سره سر ور کړم
مرګه هومره مهلت راکړه په جهان کې
چه جمدر د مدعی په وینو سور کړم
که یې درست دمټو زور راته ښکاره کړ
بیا فلك سره کشتی په خپل دستور کړم
مست هاتیان خونی زمری په ځنځیر کیږی
بویه دا چه ځان فلك و ته تر بور کړم

دغه لوی او ستر پهلوان چه ځان دفلك تر بور ګڼی او په غیږه ورځی خپل ځان مونږ ته داسې معرفی کوی او وایی :

که مې حلق له تندې وچ شی په همت کې
پر وادار کله په حوض د کوثر یم
په وګړو مې خبرې دمر دی شی
په همت کې په هر لوری نامور یم

د یا قوت د ا و بو غم نشسته لـه ا و ر ه
که دایـم د زمـانـې پـه اور کـې در یـم

په یو بل ځای کښې خپل روحی او اخلاقی عظمت مو نږ ته داسی رابښیی او وایی :

د منت دارو که مرم پکار مې نه دی
که علاج لره مې ر ا شی مسیحا هم
د پر ښتو ا مین منت دی په د عا کې
لا جر م و ر ځنی پټه کړ م د عا هم
د جهان غمو نه واړه پکې ځای شو ل
شکر داچه زړه یې لوی را کړوما هم

دخوشال خان لوړ شخصیت او لوړه روحیه دده په اشعارو کښې ډیره ځلانده معلومیږی چه ډیر لیری هم د هر چا ستر ګې بر ښوی او په همدغه وجه د دنیا په لیری هواد و نو کښې هم پو ها نو او مستشرقینو پېژندلی دی . دده دشخصیت په څېړنه کښې دا خبره هم دیادولو وړ ده چه په ده کښې فکر او خیال ، عمل او اراده ډیر ه ښه یو ځای شوې وه او له ډیرې لوړې قریحې سر ه یې ډیر لو ړ همت هم ملګری ؤ . دا ډیر لږ پیښیږی چه یو سړی دې د بزم په مجلس کښې هزار داستان بلبل وی ، او په رزم کښې دې د باز او شا هین تېرې منګولې ولری دا راز ترنده صفتونه په یوشخص کښې په ډیر ندرت یو ځای کیږی چه خوشال خان ختک یې ډیر ښه مثال دی ، نور د خوشال خان د برم ، همت او عزم قصې پر یږدم او دده په شاعری به څه ووایم. څومره اشعار چه خوشال خان ختک ویلی دی هغه هم ډیر والی او هم د هر قسم والی په لحاظ د بل چا په برخه شوی نه دی.

دده په دیوان کښې عشقي ، حماسي فکاهي ، تمثیلي او حکایوي شعرونه په مختلفو اقسامو موجوددي ، یعنې غزل، قصیدې رباعیات قطعات ، مخمس ، مسدس ، مثنوي ، ترجیع بند هر څه لري او د ژوندانه په هر اړخ او هره خواغږ پدلي دي ، دخوشال خان د اشعارو زیاته برخه په تاریخي پېښو مشتمله ده .

او دډېرو پېښو تمثیل په خپلو اشعارو کښې کوي . دي په خپله یوه قصیده کښې چه ۱۳۸ بېته ده ، د خپل ځان او خپلې شاعرۍ په باره کښې ښه معلومات را کوي چه دلته له دغې قصیدې څخه یو څو بیتونه رانقلوودي وایي :

چه د شعر شاعر یه مذکور و شو
څه خو غو ږ با سه زما په حسب حال
قصیدې لرم غرا له هره با به
په حکمت په نصیحت کښې ما لا ما ل
په تعریف د دلبر انو غزلو نه
په صفت د سترګو و روځو زلفو خال
طبیعت مې عطا یی نه د تحصیل دی
که خبر یم دا ملا په استعمال
یو ساعت به مې په درس شل مې په ښکارو و
کله ښکار پرېښوم په کسب د کمال
دجهان تحصیل به کل واړه زما ؤ
که اخته نه وای د ښکار په اشتغال
غابښ وتلی ږیره سپینه لا تراوسه
باز په لاس ګرځم په غرونو په جبال

بند و بست د پښتو شعر ما پېدا کړ
ګڼه شعر د پښتو ؤ غېر سیال
مګر زه یې چه ګویا په شاعرۍ کړم
پښتانه یې پوهول ایزد تعال
ګلستان زما د نظم شګفته شو
پرې وهی شیدا بلبله پر و بال
هر مضمون ته چه دزړه توجه وکړم
طبیعت یې را کوی په استعجال
د دیوان مې که بیت بیت سره حساب کړیء
تر څلو پښت زر و به تېر شی په سږ کال
په غزل په رباعی مې زړه مین دی
چه مداح یم د د لبر و د جمال
په محشر به مینه وړمه د سنګدلو
که په دا در نېږی تیږه د اعمال
زه مداح د هیچا نه یم بی د ښکلو
د بل چا په صفت نه لرم یو قال
که له هجوې له غندنې در ته وایم
فردوسی مې په دا کار کی نه دی سیال
لری هغه یو څو بېته له محمو ده
زه لرم د اورنګ زیب د ذم جوال
د هغه شاعر په ژبه دانی وشه
چه د شعر در دانې پلوری په مال

په ا با او په اجدادخان او سردا ر یم
کا ر نا مې لرم د جنګ او د جد ا ل
پلار نیکه مې شهیدان و ګور ته تللی
پښت په پښت مې دا هنر دی آل په آ ل
لکـه وم پـه خپل همت بیا بـه هغه وم
په بل جنګ کـې و نصرت ته په آمـال
که د جنګ د پـرهـارو نو در ته وایـم
چه له د ر ده مې په تن و و لکه نا ل
یو پرهار به مې لا رو غ په وجود نه ؤ
بل پرهار به مې په تن شو یا په ډا ل
نن به درست دهندوستان دولت ددوی ؤ
پښتا نه که کم همت نه و ای جهال
یګانه ځوانان که زر لـه مـا سره وای
نو ر زمـا ؤ په پنجاب بانـدې یرغـال
هومره قام هومره اولس سرداری هسې
سر ګـردان ګـرزی په تپښته دا منوال
تر او یا کالونو تپر شو زما عمر
زړه هغه دی تن پیری کړ لو پایما ل
خدایا هومره مهلت ورکړې په دنیا کې
چه کاږه کارونه سم کاندی خو شحال

خوشال خان په رښتیا سره د پښتو شعر پالنه پـه ډېـر ښه شان وکړه او دنورو دپاره یې ډېره لویه لاره پرانیستله همدغه سبب ؤ چه په ده پسې د شاعرانو ډېر لوی کاروان را روان شو او د دغې

ادبی قافلې سالاری دده وه ، څوك چه د پښتو شعر په تاریخ یو سرسری نظر وکړی هغه پوهیږی چه وروسته د خوشال خان نه د پښتو ژبې ډیر ښه ښه شاعران په ده پسې را پیدا شول چه اکثره یې د دیوان خاوندان دی نو په همدغه سبب خوشال خان ته د پښتو دادب پلار او ددغه لوی او پاخه نهضت مؤسس ویلی شو ، د پښتو ژبې ډیر لوی لوی شاعران ده ته په دغه حق قایل دی مګر دده شخصیت یوازې په پښتنی دنیا کښې منلی نه دی ، بلکه د ټولې دنیا پوهان او مستشرقین هم ورته په ډیر درانه نظر ګوری اسلامی انسایکلو پیډیا (دائرة المعارف) دده په باب لیکی :

«خوشال خان یو توریالی شاعر او مشهور خان ؤ چه اشعار یې له وطن خواهۍ څخه ډک دی» مستر راورټی لیکلی دی چه خوشال خان د پښتو ډیر مشهور ادیب دی ، د ده اشعار په یورپ کښې ډیر قدر لری ، راورټی په خپل کتاب ګلشن روه کښې د خوشال خان منتخب اشعار را اخستی دی او په ډیر لوی حق ورته قایل دی . ډار مستتر وایی چه خوشال خان د توریالیتوب او شعر ګډ روح درلود . ابراهام ګریرسن لیکی چه خوشال خان د ختکو توریالی مشر ؤاو دده شعر د نورو نه ډیر خوږ دی . سی ، ای ، بی ډولف په خپل کتاب کښې د خوشال خان پنځلس (۱۵) قصیدې ، ۴۶ غزلی ، ۱۸ قطعې او ترجیع بند په انګلیسی ترجمه کړی دی او دده په باب یې ویلی دی «خوشال خان ډیر لوی استعداد او فوق العاده پوهه درلوده هیڅ مضمون نه دی پاتې چه ده په شعر کښې نه وی ویلی هیڅ داسې نکته نشته چه دی پرې نه وی غږیدلی دده اشعار خصوصاً د وطن خواهۍ جنبه لری»

خوشال خان سر بیره دشعر په دیوان نور هم ډېر تالیفو نه او ترجمی لری چه ځینو مستشرقینو تر سلو جلدو ښو دلی دی لا کن راورټی د ده آثار تر ۵۰ جلدو پورې ښیی مګر ددغو آثار و پته نه ده معلومه او ډېر لږ کتابونه یې په ځینو کتابخانو کښې موندل کېږی .

لکه فضل نامه ، فرخ نامه ، ریاض الحقیقة ، دستار نامه ، صحت البدن ، ائینه ، باز نامه ، هدایه چه له عربی څخه یې ترجمه کړی ده او نور .

د خوشال خان له دغسې لالهانده او سر ګردانه ژوند سره چه یا په جنګ او جګړو کښې او یا په ښکار او ګر ځېد و کښې تېر شوی دی ، دغومره اشعار او په دغه اندازه ترجمې د ا ثابتوی چه دی دډېر لوی استعداد او دډېرې لوړې قرېحې خاوندؤ .

خوشال خان سر بیره په دې چه قوی روح ، قوی زړه ، او قوی دماغ یې درلود ، دجسمانی قوت په لحاظ هم ډېر پیاوړی ؤ ، ځکه چه دشپېتو کالو په عمر هم له برمه نه ؤ لوېدلی .

دی په خپلو اشعارو کښې کله خپل زامن ۲۵ او کله یې ۳۰ ښیی او د خپلو لمسیو حساب له شماره وتلی ګڼی . دده د لوڼو تعداد دځینو په قول ۳۰ تنو ته رسېږی او په دغه لحاظ هم یو څه فوق العاده ګی لری . د خوشال خان د استعداد یو مهم صفت دادی چه دخپل محیط او ما حول له ډېرو جزئیاتو سره یې تماس کړی او دخپل کورحال یې هم پټ نه دی پریښی ، د قومونو او اولسونو اخلاق او عادات هم دده په اشعارو کښې ښودل شوی دی ، او دخپل وخت کاختی او قیمتی ، مرضونه او افتونه ، جنګونه او جګړې هم بیانوی ، بلکه

سر بېره په پېښو او حادثو دخپلې زمانې اجتماعي حالات هم څرګندوی چه ددغسې اشعارو یو څو نمونې دادی :

بیادې څه پتنې اغازې کړې اسمانه
چه عباس دې را روان کړله ایرانه
یو سختی اور نګوری دی په ملك زور کړه
بل دې بر برکت واخیست له جهانه
دکابل میوې خوراك دی د توتیانو
پرې خواره شول تور کارغان له هندوستانه
یو شدت د پاچاهانو تر منځ پریووت
بل دا ملك شو یو څو کاله بې بارانه
هغه چا به چه په زور میلمانه غو بښتل
اوس سر پټ کاندی تېریږی له مهمانه
ما په عمر هسې کار لیدلی نه ؤ
نه مې کله اوریدلی ؤ له چانه
چه پسر له لوږې مری پدر یې ګوری
د پسر اندوه یې نه وی بې له ځانه

په دې شعر کښې د ۱۰۵۸ هجری کال ددو هم عباسی صفوی حملې ته اشاره ده چه په کندهار یې حمله وکړه او شاه جهان یې مقابلی ته فوځ ور ولېږه ، نو کله چه دیوې خوا د دوو پاچاهانو تر منځ جنګ ونښت او له بلې خوا څخه کاختی او رنګورتیا په وطن خپره شوه .

د خوشال خان په نورو اشعارو کښې هم د دغسې حالاتو ذکر راغلی دی چه د ده دعصر انعکاسات رابښي او دا څرګندوی چه

خوشال خان د خپل چا پېریال په اجتماعـی ژونـد کښې ښه ژوره مطالعه لرله او په ډېرو باریکیو ډېر ښه پوهېده .دی په یوه رباعی کښې داو رنګ دزمانې حال خومره ښه تصویر وی او وایی:

خانان یې واړه تلاوت خوان کړه
د هند هندوان یې دانشمندان کړه
وخت داور نګ دی عمل هیڅ نشته
خو کتابونه یې په عالم ګران کړه

په یوه بله رباعی کښې خوشال خان دخپلو پښتنو حال داسې ښیی او وایی :

چه وهر سړی ته وګورې نظر کړې
چه تر واړو پښتنو یې دی ډېر کلی
درې څلور تکبیره ووایه ترې تېر شه
د مرده ؤ هدېرې دی د سوات کلی

خوشال خان سر بېره په حربی او رزمی شجاعت داجرئت هم درلود چه خپل هر راز حال او د نورو احوال په خپل شعر کښې په ډېر بی پروا توب بیان کړی او هیڅ حقیقت له چا څخه پټ نه کاندی ،دده ځینې اعترافات هم له روسو نه کم نه دی او هغه څه یې دځان په باب او د نورو په باره کښې ویلی دی چه بل څوك یې له شرمه او یا له ډېره ډاره نشی ویلی .

خوشال خان سر بېره په دې چه د پښتو شعر پالنه یې دلفظ او معنی په لحاظ ډېره ښه وکړه د پښتو نثر ته یې هم ترقی ورکړه او په ډېر ښه سبک یې ځینې منثور آثار ولیکل دده سبک په شعر ی جنبه کښې دادی چه ده په خپلو اشعارو کښې دملیت او وطن د وستی احساس په ډېر قوت ګډ کړی او پښتو ته یې دخودی او خپل واکی پیغام وړاندې

کړی دی حماسی برخه یې په شعر کښې ډېره درنه اودقوته ده که ده دمضامینو دتنوع اودشعر داقساموا وانواعو په لحاظ څوك له ده سره برابری نشی کولای دفکر آزادی، جرئت اوجسارت یې ډېرزیات دی نوځکه یې په اشعارو کښې بیبا که اوبی پروازړه ورتوب وینو ، دده اعترافات او رندانه وینا په دغسی صراحت او وضاحت دبل چا په اشعارو کښې نه وینو ، خوشال خان له اقواموا او اشخاصو نه نه دی ویریدلی ، اودعرف عادت ، رسم اورواج په قید کښې ډېر نه دی راغلی لکه چه دی په خپله وایی :

زه خوشحال کمزوری نه یم چه به ډار کړم .

په ښکاره ناري وهـــم چه خوله یې راکړه

خوشال خان یو از ې رزمی شاعر نه دی عاشقانه سندرې او دښکلا ترانې هم لری مګر په غزلو کښې یې د شجاعت او شهامت روح اغیزه کړی اوله دغه امتزاج او ګډون څخه دده په سندرو کښې یو بل رنګ او بل کیف پیداشوی دی ، نو که د خوشال خان شعر څوك په کومه بله ژ به ترجمه کړی نو پښتنی رنګ او پښتون توب ترینه نه ځی . ځکه چه دده افکار ، تخیل، احساسات او تصور پښتنی روح لری ، اومضامین یې دا فغانیت او پښتونولی نمایندګی کوی ، دده په دیوان کښې ځینی تصوفی او اخلاقی اشعار شته ، مګر دده دشاعری اساسی جزء اومهمه برخه یې نشو ګڼلی البته دا ویلی شو چه دی دمعلوماتو او مطالعاتو خاوند ؤ اوله دغوخواؤ نه ناخبره نه ؤ مګر په شاعری کښې یې هدف بل شی ؤ او اساسی توجه یې بلې خوا ته وه . خوشال خان په شاعری کښې دالفاظو ډېره پروا نه ده ساتلی هر لفظ چه په هرځای کښې پکاریده خپل ؤ او که پر دی غریب ؤ او

که فصیح ده ترینه کار اخیستی دی او کله کله یې دیو لغت هېوکی مات کړی او په بل ځای کښې یې په زور لګولی دی نو په همدغه سبب دده دیوان دلغاتو حل کول او په ټولو اشعار ویې پوهېدل ډېر ګران کاردی ، تر څو چه سړی له ځینې هندی ژبو او د پښتو له مختلفو لهجو او محاورونه خبر نه وی دده په ژبه پوره نشی پوهېدلی دغومره ډېر اشعار ویل ضرور له الفاظو سره یو څه بی قیدی او بې پروایی غواړی او د اشعار و په دغسې لویو دیوانونو او دفترونو کښې هر و مرو له پردیو او ناآشنا لغتونو نه کار اخیستل کیږی خوشال خان ته د پښتو نولی نښې او رګونه ډېر ښه معلوم وو ، او د ننګ او غیرت په پارولو ډېر ښه پوهېده نو ځکه یې اشعار د پښتنو په ذوق او فکر ډېر برابر دی او پښتو نولی پکښې ډېره زیاته ده ، د پښتو املا یې هم ډېره ښه کړه.

دی په خپله هم دغه مطلب په دې ډول ادا کوی او وایې :

که د نظم که د نثر که د خط دی - په پښتو ژبه مې حق دی بې حسابه
نه پخوا پکې کتاب ؤ نه ئې خطؤ- دادی ما پکې تصنیف کړه څو کتابه

« یادونه »

(۱) ، په دې مقاله کې د ښاغلی الفت له درسی نوټونو څخه اقتباس او استفاده شوی ده

(۲) د خوشال خان بابا د کلیاتو او نورو کتابو څخه هم استفاده شوی ده

(۳) د ښاغلی خوږیانی له مضمون څخه چه په وږمه کښې چاپ شوی دی

(۴) د ښاغلی رشتین له نوټونو څخه چه په فاکولته کښې یې درس راکړی دی

(پای)

دثابت ترجمه اوخیړنه

مارکوپولو ـ دمارکوپولولار

په دنیا کښې دوداودستوردی چه دنړۍ ټول مدنی او ژوندی ملتونه دخپلو لرغونو ویاړونو نمانځنه کوی. په دې ترتیب چه یاخود هغو مجسمې جوړوی اویاخودهغوی په نامه یادګارونه او ځلی دروی. زموږ په هیواد کښې هم زموږ دلرغونواو پخوانیو نومیالو دنمانځنې اودهغوی دنوم ژوندی کولو په غرض په ځایو، لارو مو سسو، ښوونځیو باندې زموږ د نامتو کسانو نومونه ایښو دل کیږی. په دې ورځو کښې زمونږ په هیواد کښې دالوتکې هوائی لار د(مارکوپولو) په نوم نومولی شوی اود (مارکو پولولار) بلله شوې ده. اوهروخت دانوم په راډیو کښې اعلان اوپه جریدو کښې خپریږی.

ځکه چه (مارکوپولو) په نړۍ کښې نامتوشخصیت او بین المللی حیثیت موندلی اوپه ټوله نړۍ کښې دده ښه نوم اولوړ مقام منل شوی زموږ په هیواد کښې هم دهغه دنمانځنې دپاره دهغه نوم په هغه لاره کښیښو دل شو چه نوموړی «مارکوپولو» پەخپله زمانه کښې (۱۲۵۴ـ۱۳۲۴م) په دغه لاره سفر کړی دی. یعنی هغه وخت چه دی له خپل وطن (وینز) څخه راوتلی دی په وچه باندې د عراق،

ایران له لارې پښتونخواته راغلی اوپه دغه هیواد تیر شوی دی بیاله دې وطن څخه ختاته تللی بیا چین ته پسې اوښتی دی اوس غواړم ددغه نومیالی د بین المللی شخصیت په باب څیړنه وکړم او ښاغلو لوستونکو ته یې وړاندی کړم

مارکوپولو :

مارکو پولو دنیکو لوپولو زوی دده اصلی نوم (مارکو) دی دده دپلار دنامه یوه ټوټه «پولو» دده له نامه سره یوځای شوی او (مارکوپولو) ترې جوړ شوی دی چه په دغه مرکب نوم په نړۍ کښې شهرت لری .

مارکوپولو اصلا دایټالیې د (وینز) نومی ښاروونز دایټالیی پخوانی ساحلی ښاروچه داد ریاتیک دبحر په غاړه پروت او بحری بندر هم و.

مارکو پولودکوچنیوالی په وخت کښې :

مارکوپولو پنځه کلن وچه دده پلار (نیکو لوپولو) اودده کاکا (مافئو) چه د سوداگری کاریې کاوه دجواهرو دپلور لواو پیرود لو د پاره د (وینز) له ښار څخه د ختیځو هیوادو خواته مسافرت کړی و اوویل کیدل به چه دوی د تور بحر له ختیځی خوانه یو نامعلوم وطن ته تللی دی .

مارکو له کوچنیوالی څخه حساس هلک اود پلټنې او کونجکاوی حس یې درلود اوپه هره خواکښې به یې ژوره پلټنه کوله .

د (وینز) په بندر کښې به خلکو لیدل چه یو پنځلس کلن هلک هروخت بندرته راځی او دبیړ یو په منځ کښې ګرزی راګرزې او خپل وخت دغلته تیروی. هر چا چه به داهلک لیده په ځای ددې چه

دی له خپلو همځو لوسره لوبې اوسا تیری وکړی په هغو دکانو کښې به یې وخت تیراوه چه هلته به دمانګیانو ټولنه وه او دهغوی خبرې اتری اود سر ګذشتو نو نکلونه به یې نغوږول . سړی به ګومان کاوه چه دا هلك چه (مارکو) نومیږی له اوله مانګی زیږیدلی دی او فطرتاً مانګی ګڼل کیږی .

هغه وخت چه دده به دمانګیانو دټولنو په ځای کښې ددوی خبرو ته غوږ نیو دده نور ملګری به په ساعت تیری بوخت وو .

سره له دې چه (مارکو) خپل وختونه له مانګیانو سره تیر ول له بحر سره یې علاقه نه لرله بلکه له مانګیانو سره یې له دې امله ناسته ولاړه او ګډون کاوه چه هغوی ډیرې لیرې مځکې او ډول ډول ملتونه او قومونه لیدلی او پیژندلی دی .

(مارکو) ددی دپاره داکارکاوه چه دهغو مځکو او هغو قومونو په باب څه شیونه واوری او خپل پلټونکی او څیړونکی حس ته قناعت ورکړی .

داسې هم نه وچه مارکو یوازې هلته وخت تیراوه بلکه په ورځو ورځو به دبندر په غاړه ددې دپاره کښیناسته چه له سفر څخه یوه بیړی راوړی سیږی او هروخت چه به لیری دبیړی بادبان او دهغې پورتنۍ برخه ښکاره شوه دانوی زلمی به ډیر هوسید ه او په همدی وخت کښې به یې دتصور او تخیل په قوت هغه څیزونه چه له مانګیانو څخه به یې ارویدل په خپل نظر کښې مجسم کول .

په دغه مهال کښې چه ورووړ و به بیړی داو بو پرمخ باندې راروانه وه او خلکو به ورته خوشالی کولې دغه نوی زلمی به داهیله لرله چه یو اشنا سړی پکښې ووینی .

کله چه به لومړی سړی له بیړۍ څخه راکښته کیده او پر مځکه به یې پښه ایښو دله (مارکو) به په بیړه هغه ته ورته او سمدستی به یې پوښتنه ورڅخه کوله: له کومه راغلی اوڅه دې لیدلی دی؟ په دې حال کښې به یې په غور سره دهغه خبرو ته غوږ نیو.

مارکو یوازې دسر ګذشتو نو سره مینه نه لرله بلکه دمارکو دغې مینې یو بل علت هم درلود هغه داچه دده پلار چه (نیکولو پولو) نومیږ اوددده کاکا چه (مافئو) نومید څو کاله دمخه دجواهـــرو دتجارت په غرض د (وینز) له ښار څخه تللی وواو خلکو به ویل چه هغوی دیونا معلوم وطن خواته تللی دی پوره لس کاله کیدل چه ددوی درك اوپته معلومه نه وه او څوك خبر نه وو چه دوی ژوندی دی که نه.

مارکو نه شو کولای چه لس کاله پخوانی پیښې په یاد راولی ځکه هغه وخت دی یو کوچنی هلك و.

خوده ته به ویل کیدل قوی ګومان کیږی چه یوه ورځ به ستا پلار او کاکا چه په ختیځو سیمو کښې د ایشیا نا معلومو ځایو ته تللی دی بیرته به خپل وطن ته راسی.

او ده ته به ویل کیدل چه ددغې مسافرۍ له اوږدوالی څخه تاسې حیرانې مه کوئ ځکه چه دایشیا نا معلومو وطنو ته دا ډول مسافری طبعاً اوږدې وی.

(مارکو) به ارویدل چه خلك وایی دده پلار او کاکا ژوندی دی ځکه دوی به ویل چه دایشیا په هیوادو کښې ارامی اوامنیت دی.

مارکو هم په بی صبرۍ د هغوی دواړو د راتلو انتظار کاوه.

دا و و چه یوه ورځ یوه بیړۍ راغله او د ډیرې مودې دوه تنه پردیسان یې راوستل .

د مارکو پلار او کاکا له ډیروشتو سره وطن ته راغلل . خو کوم شی چه د (مارکو) توجه یې راګرځوله هغه د ده د پلار او کاکا عجیب نکلونه وو.

دغه نوی زلمی به د پلار او کاکا په خواکښې کښته پورته کیده او له هغوی څخه به یې غوښتل چه د خپلو لیدنو او کتنو نکلونه ده ته وکړی او پرله پسې به یې هغوی ته ویل :

نکل وکړیء ..... نکل وکړیء .....

دوی ډیر نا اشنا ملکونه لیدلی وو او نا اشنا خبرې یې له ځان سره راوړی وې .

دوی به ویل کوم وطن ته چه موتر للی وو هغه دشمس الطالع په نامه یادیږی .

(نیکولو - پولو) به ویل تاسې چه په دې ځای (وینز) کښې ژوند کوئ تاسې به خیال کوئ چه تاسې دنړۍ ډیر لوی ملت یاستئ او ستاسې ښار له ټولو ښارونو څخه ډیر ښایسته او ډیر شته من او لوی ښار دی .

خو ما چه کوم ښارونه لیدلی دی د (وینز) ښار دهغو په مقابل کښې یو تیاره کونج غوندې دی .

د مارکو پلار وویل تاسې غوږ ونیسئ د (یانګ تسه) سیند ته نیژدې یو ښار دی چه (هانګ چو) نومیږی اودا ښار لکه د (وینز) د ښار غوندې د اوبو پرغاړه ودان شوی دی خو د هغه پلو نه په ډیرو جوړ شوی دی اوسیدونکی یې یو میلیون او دوه لکه تنه دی

یعنی د (وینز) د ښار له اوسیدونکو څخه دوولس برابره زیات دی.

دا ښار لوی لوی خیابانونه لری چه دوه سوه قدمه سورو دی. ددغو خیابانو پرغاړو کورونه، باغونه، ماڼۍ، دکانونه او معبدونه جوړ شوی دی. د دغه ښار سوداګران دومره شته من دی چه موږ د هغوی په نسبت د فقیرانو په ډله کښې ګڼل کیږو.

دهغه ځای په دکانو کښې نایاب شیو نه لکه غذائی دارو ګان او وریښم او ملغلرې خورا ډیر موندل کیږی. ددغه ښار په خیابانو کښې د نړۍ ډیرې ښایسته میرمنې لیدل کیږی د هغه ښار په بندرونو کښې دومره بیړۍ لیدلی کیږی چه سړی ویلای شی چه په هیڅ یو ځای کښې به دهغو مثال نه وی.

په دی حال کښې د مارکو کاکا (مافئو) دخپل ورور خبرې پریکړی او ویې ویل:

د (سوچو) د ښار په باب کښې ولې خبرې نه کوې؟ ووایه چه دا ښار څومره اوسیدونکی لری او په هغه ځای کښې حکیمان او طبیبان څومره ډیر دی.

په دې وخت کښې هغه ارویدونکی مخاطب کړل او ویې ویل د (سوچو) په ښار کښې وریښم دومره زیات دی چه دهغه ښار ډیرخوار سړی هم وریښم اغوندی او دوریښمو له انډیو څخه ډکې بیړۍ له دغه ښار څخه نورو ځایو ته ځی.

کله چه به له دغی دوو ورونو څخه ارویدونکو دا سرګذشتونه ارویدل پوښتنې به یې کولې د دغو ښارو نوغوندې نور ښارونه هم په چین کښې شته؟

دوی به په ځواب کښې ویل: هو، دا هیواد یو لوی امپراتور

لری چه (قوبلای خان) نو میږی او زموږ امپراتور هم پیژنی او ځینی سوغاتونه یې هم موږ ته دهغه دپاره را کړی دی .

دوینز سوداګرانو چه د هغوی دا خبرې ارویدلې نو باور به یې نه راته او ویل به یې چه دانه کیږی چه له (وینز) څخه دې لوی ښار وی او د (وینزی سوداګر) عنوان په هغه وخت کښی د افتخار سبب ګڼل کیده او دوینز سوداګرو دانه منله چه دوی دې بل سیال او رقیب هم ولری .

رښتیا هم داسې وو چه هغه وخت دوینز ښار خپل ځان داروپا له ټولو ښارونو څخه لوړ با له ځکه په هغه عصر کښې (وینز) د شرق او غرب د نښلولو ځای او څلور لاری ګڼل کیده .

ټول تجارتی مالونه چه به اروپا ته تلل اول به (وینز) ته رسیدل او لویدیځو هیوادو به هم خپل تجارتی مالونه دوینز له لارې ختیځو هیوادو ته استول .

زلمی (مارکو) چه ولیدل چه د (وینز) سوداګران دده د پلار او کاکا دوینا وو د رښتیاوالی په نسبت شکمن دی نوده بیا له هغو څخه په غور پوښتنه وکړه دا شیونه چه تاسې یې نکلونه کوی ، رښتیا دی ؟ پلار یې ورته وویل : هو ، داخبرې ټولې رشتیا دی . له دې څخه تیر - موږ بیرته چین ته ځو او تا به هم له ځان سره بوځوته به یې په خپلو سترګو ووینې او زموږ دخبرو تصدیق به وکړې .

مارکو له خپل پلار نیکولو - پولو او کاکا سره د چین خواته وخوځید .

زلمی مارکو چه فطرتاً دذکاوت خاوند او دخیړنې او لټون فکر یې درلود دادی اوس دوطنونو د لیدلو په غرض او په دنیا کښې د

سیاحت اولیدلو کتلودپاره له خپل پلاراوکاکا سره په اوږده سفر وخوځید. ددوی دا مسافرت دوچې له لارې و. دخپل هیواد څخه یې د شرق خواته مسافرت شروع کړ او دایشیا په سیمو کښې یې خپل مسافرت ته دوام ورکړ. د عراق او ایران هیوادونه یې ولیدل او د پښتو نخوا هیواد تهراغلل له لیدنو کتنو څخه وروسته له همدغه ځای څخه دختا او چین هیواد ته ورسیدل. پردغه لاره د دوی د مسافرت له امله ددوی د ټګ دغه لاره اوس د(مارکو پولودلارې) په نامه ونومول شوه.

مارکو او پلار او کاکا یې چین ته ورسیدل:

دا درې اروپایی پردیسان چین ته ورسیدل او د هغه هیواد د امپراتور (قوبلای خان) در بار ته ورغلل او چه دغو پردیسانو پخوا له امپراتور سره پیژند ګلوی درلوده امپراتور دوی خپل حضور ته و بلل.

زلمی (مارکو) دامپراتور دمانۍ شان اوشوکت په حیرت کښې واچاوه.

دچین امپراتور ته دمارکو ورپیژند نه:

په دې وخت کښې چه دا درې اروپایی پردیسان دامپراتور په حضور کښې وو امپراتور (قوبلای خان) پر تخت ناست و، لیدل یې چه دا نوی ځوان په دې محیط کښې نا بلد او ځان پردی ګڼی ورو سته امپراتور له (نیکولو-پولو) څخه پوښتنه وکړه چه دا هلک څوک دی؟ پلار یې په ځواب کښې ورته وویل: دی ستاخدمتګار او زما زوی دی.

امپراتور وویل: زه ده ته هر کلی وایم ځکه ستازوی زما خوښ سو.

په دې حال کښې امپراتور ددوی د مسافرت په باب کښې پوښتنه وکړه.

ترچین پورې ددوی مسافرت :

دامپراتورد پوښتنې په ځواب کښې (نیکولو-پولو) په دې ډول دخپل مسافرت حال بیان کړ: موږ چه له (وینز) څخه را روان شوی یوچه څو ستاسی دربار ته راورسیدو. درې نیم کاله زموږ پرلاره تیرشول په لاره کښې مصرته راغلو بیا بین النهرین (عراق) ته راغلو لږه موده مو په عراق کښې تیره کړه.

نیکو پولو دمرکې په ترڅ کښې دبغداد په باب کښې ځینی مطالب امپراتورته عرض کړل اوویی ویل : عراق داسې هیوا ددی چه هلته دکجورو (خرما) ونې ډیرې کیږې اود اډول ټوکران هلته اوبدل کیږی چه بوده او تنسته یې دواړه وریښم او طلا دی او هلته بخمل هم او بدل کیږی.

دبغداد خلك دښه صحبت خاوندان او پوه خلك دی ځکه دهغه ځای زیات خلك په فقه، نجوم اوطب پوهیږی اوددغه ځای خلك د دغو علوموله تحصیل سره زیاته مینه لری. نیکو لو پولو وویل له بین النهرین څخه ایران ته راغلو اوپه ایران کښې دهواد ګرمۍ له کبله زمازوی (مارکو) ناروغ شواومرګ ته نژدې شوی و، خو مادی غرنیوسیمو ته چه سړه اوسالمه آب وهوایې لرله بوت چه څو (مارکو) ښه شو. دامپراتور مهربانې سترګې یوه ګړۍ (مارکو) ته متوجه شوې اوویې ویل: او س لاهم پوره نه دی روغ شوی څوموده دې په دې ځای (چاندو) کښې زماد دوبی په ماڼۍ کښې استوګنه وکړی، لکه چه موږ ټول جوړ اور وغ یو دی به هم زما په شان روغ او سالم شی.

دمارکو سفرنامه :

زلمی مارکو که څه هم په اول کښې دیوسوداګر په حیث اود تجارت

په نامه له خپل وطن څخه راوتلی وځکه د ده پلار نیکولو پولو او کاکا یې دواړه سوداګران وو او مارکو یې هم د تجارت او سوداګرۍ په کسب کښې د ګډون د پاره او په اصطلاح د پیسو اوشتو د ګټلو په غرض له ځان سره راوستلی و، خو مارکو چه د تجارت په نسبت له عرفانی چارو سره زیاته علاقه لرله او د خورا ښو بلکه فوق العاده احساساتو او رسا فکر خاوند و نود تجارت کارونه یې پلار او کاکا ته پرېښودل او دهغو په ضمن کښې یې عرفانی چارې سرته ورسولې او په داسې کارو مشغول شو چه دده وطنو الوته په ښه ورشی او دهغو د پاره ښه سوغات او ابتکاری خدمت وکړای شی .

هغه وچه فکور مارکو دیوې سفرنامې په لیکلو پیل وکړد مارکو د اسفرنامه دومره مشهوره او معروفه شوه چه په ټوله اروپا کښې خلکو ورڅخه زیاتې استفادې وکړې او لومړنی کتاب وچه د چین پراخ اونا متو هیواد یې اروپایانو ته ورو پیژاند او د شرق نورو وطنو نه او نورې ډېرې جزیرې یې هم خپلو وطنو الوته ورمعرفی کړې .

په دغې سفرنامې کښې مارکو د (چاندو) د ښارچه د (خانادو) په نامه یادیده بیان او ښه ستاینه کړې ده د دغه کتاب له لیکلو څخه څو سوه کاله وروسته په نوموړی کتاب کښې د (خانادو) د ستاینې او بیان لوستلو پرانګلیسی شاعر (کالریج) باندې دومره اغیزه وکړه چه خپله مشهوره ټوټه شعر یې دهغه په باب کښې ولیکه چه یوه برخه یې په لاندې ډول ده .

«قوبلای په خانادو کښې پاچاهی کوی او په دې باره کښې یې چه تر ګومبره لاندې رسمی عیش وکړی یو فرمان صادر کړ.

«هلته یو ځای چه د (آلف) مقدس سیند بهیږي داسیند هغو غاړو

څخه چه انسان دهغو دژورو الی په اندازه کولو قادر نه دی تیریږي او هغه سمندر ته چه لمر پکښې راخیژی تو یږی» له زلمی (مارکو) سره د امپراتور ډیره علاقه پیدا شوه او هغه او دده پلار او کاکا یې کلک دوستان شول د باچا په زړه کښې دې خبرې ځای ونیوچه (مارکو) رشتیا نی لایق شخص دی کولای شی چه د امپراتور د پاره ښه خدمت وکړی.

په چین کښې د مارکو سیاحت:

دځه مودې څخه وروسته د چین امپراتور زلمی (مارکو) د خپل پراخ هیواد په سیاحت اوګرزیدنه مامور کړاو له پایتخت څخه د باندې نورو ولایاتو ته یې واستاوه.

د امپراتور له مایني سره سم مارکو هم د چین د ولایاتو په ګرزیدنه او سیاحت ووت او د چین ډیر ځایونه یې ولیدل او د چین د اوسیدونکو دودونه او نور په زړه پورې شیونه یې نوټ کړل او له ځان سره یې راوړل (مارکو) چه له دغه سفر څخه بیرته راغی د چین د ملت د ژوندانه او دودونو په باب کښې یې سرګذشتونه امپراتور ته راوړل او ښکاره یې کړه چه په هر ځای کښې ارامی ده او خلک ډیر نیکمرغه ژوند لری، کسب او سوداګری رواج دی، پوهان ډیر لیدل کیږی.

د (مارکو) د بیان ډول او د هیواد د ښایست په باب کښې د هغه د ستاینې بیان دخان ډیر خوښ شو او ویې ویل زما سړیو هیڅ یوه داشیو نه نه دی لیدلی او نه یې لیدای شی. ته به وایې چه لیونیان دی او دا اول ځل دی چه له یو سوداګر څخه د خپل ملت په باب کښې دا دودونه او اداب او د خو ښې وړشیونه اورم.

د امپراتور په نزد د ځوان (مارکو) منزلت او قرب زیات شو. مارکو بیا هم د پراخ چین د لیدلو د پاره مسافرت وکړاو ډیر لیرې ځایونه لکه

سیبریا او د (کوبی) بیدیا او تبت ته هم ولاړ. تر دغه وخت پورې هیڅ یو اروپایی دغوځایو ته نه وورغلی نو موږ ی مارکو چه به هرې سیمې ته ورغی هر څه چه به یې ولیدل یا به یې واورویدل په غور او دقت به یې نوټ او یادداشت کول. په دغه سفر کښې مارکو څوژبی هم زده کړې او په کوچنو کوچنو کلیو او لیری لیری جلګو کښې به یې شپې کولې.

د بید یا له پوونده ؤ سره په ارتو او پراخو بیابانو کښې وګرزید کله چه بیرته راستون شو پیکن او (چاندو) ته ورغی چه خپل لیدلی او اوریدلی شیونه خان ته وړاندې کړی او دهغه د پلټنې او څیړنې حس قانع کړی.

هر وارچه به مارکو دامپراتور دربار ته ورغی امپراتور به خپلو دربار یانو ته ویل داځوان ډیر لایق او خوراپوه سړی دی.

مارکو چه به په چین کښې هر څومره زیات سیاحت او ګرزیدنه کوله زیات خوند به یې اخیست او ډیر به پرې خوشالیده.

مارکو په خپله (سفر نامه) کښې لیکلی دی:

هغه وخت چه دی په (وینز) کښې اوسیده، ده به داسې خیال کاوه چه په نړۍ کښې له اروپا څخه پرته بله متمدنه مځکه نشته خو کوم وخت چه دی چین ته چه په زرهاوومیله له اروپا څخه لیری دی ورسید ویې لیدل چه په دی ځای کښې یو ستر او مهربان ملت چه له اروپا یانو څخه ډیر بلړای اوشته من دی ژوندون کوی او د هغوی د چارو د اداری او حکومت وضعیت هم له اروپا یانو څخه ښه دی او د اروپا یانو په عکس له سولې سره زیاته مینه لری.

کوم شی چه د (مارکو) ډیر خوښ شو هغه داو چه د چین آداب او دودونه د اروپا یانو له دودونو څخه ډیر ښه دی او د ژواندانه اسانتیاوی

پکښې ډېرې اوښې دی لکه چه په هغه وخت کښې چینیانو نوټ درلود او د ډبرو له سکرو څخه یی استفاده کوله چه ډېره موده وروسته په اروپا کښې داشیونه او دا ډول ښیګڼی پیدا شوې .

قوبلای خان هم یو مهربان پاچاؤ کو ښښ به یې کاوه چه دده ملت وږی او فقیر نه وی کله به چه وچکالی پیښه شوه او د کرهڼې حاصلات به کم شول یا به حیوانی اپتو نه پیښ شول او حیوانات به تلف شول نو به خان خلکو ته مالیې وربخښلې او له خپلو حکومتی ګودامونو څخه به یې د کاختی وهلو سیمو او سیدونکو دپاره غلی لیږلې او بزګرانو ته به یې غوایی وبخښل چه کرهڼه پې وکړی .

اجتماعی بیمه چه په دې وختونو کښې په نور وطنو کښې مروجه شوې ده په چین کښې په هماغه عصر کښې رواج او جوړه شوی وه او له بې وزلو سره به مرستې کیدلې .

مارکو اود ده پلار او کاکا خپل وطن ته روان شول :

او له لس کاله وروسته مارکو او دده پلار او کاکا د خپل وطن د تللو په فکر کښې شول او هیله یې کوله چه ترمړینې پخوا بیرته خپل ښار (وینز) ته ورسیږی او دایتالیایی کشتی وانانو آواز په هغه ښار کښې واوری .

ددوی ددې خیال په اثر د چین امپراتور هغوی راوغوښتل او ورته ویې ویل تر اوسه پورې تاسې په دې هیواد کښې ښه ګذاره وکړه او له دې وروسته هم زه ستاسې دوستی اووفا غواړم اوورته ویې ویل چه تاسې له دې خوا د دریاب له لارې د سوماترا ، سراندیب (سیلون) او هندوستان د جنوب او دا وقیانوس له لارې څخه خپل وطن ته ځانونه ورسوئ .

مارکو او نیکولو پو او ما فئو ارو پا ئی پردیسان هم د چین د امپراتور له توصیی سره سم د بحر له لارې روان شول دسو ما ترا دهندو جنوب له لارې یې په بحر هند کښې خپل مسافرت ته دوام ورکړ دوه کاله یې په لویو لویو بحر ونو کښې بحری سفر وکړ چه دایران په سیمه کښې وچې ته وختل او نور یې دوچې له لارې دخپل وطن خواته مسافرت وکړ هغه وچه له شلو کالو پردیسی څخه ورو سته دادرې واړه پردیسان خپل هیواد ته ورسیدل او سر بیره پردې چه ددوی په زړونو کښې دخپل وطن د لیدلو مینې زیاته خوشالی پیدا کړې وه په دې هم زیات خوشاله وو چه دوی ځینی قیمتی ډبرې او دختیځ هیواد و ځینی قیمتی سوغاتونه هم له ځان سره وړی وو چه خپلو وطنوالو ته یې ورووښی.

کله چه ددوی بیړی د (وینز) بندر ته ورسیده او دهغه ښار په بندر کښې دوی کښته شول نو ددوی دریو واړو سره په ستر ګو کښې او ښکې ورغښتې او هیچا دوی نه پیژندل ځکه د (وینز) اوسیدونکو دا ګومان کاوه چه نیکولو پولو اوورور یې اودهغه زوی (مارکو) به چه د ختیځ ډیر لیری هیواد ته تللی دی مړه وی.

خو کوم وخت چه (مارکو) چه په دغه وخت کښې پوخ سړی و خپلو وطنوالو ته ښکاره کړه چه دوی هغه ورك پردیسان دی اوس دا دی بیرته خپل وطن ته راغلی دی نو د ښارخلکو د دوی په ویاړ جشنونه جوړ کړل.

د مارکو سرګذشتونه:

کله چه دغه دډیرو کلو پردیسان له سفر څخه لږ څه هوساشول نو د ښار ځوانان پر (مارکو) باندې راټول شول په زیاته مینه او

هیجان به یې ورته وویل : موږ ته ته دخپلو سرګذشتونو او لیدنو کتنو نکلونه وکړه او وایه چه په هغو لیرې هیوادونو کښې دې څه لیدلی دی ؟

مارکو ور په زړه کړل هغه وخت چه دی زلمی وده به هم په دغه شان له مانګیانو څخه ددوی دسرګذشتونو پوښتنې کولې نوده هم د دوی د مینې ماتولو په غرض دخپلو سرګذشتونو په بیان پیل وکړ.

او ویې ویل یو خو دادی د (چاندو) ښار داسې مانۍ لري چه ستاسې دوینز دښار خورا ښکلې او ستري مانۍ هغو ته لکه یوه کوچنۍ کوډۍ غوندې دی .

ده وویل چه دهند دبحر په ځینو جزیرو کښې مې بې لکۍ بیزو ګانې لیدلی دی چه قدونه یې دانسان دونې په اندازه وو . او د هندوستان دشمالی خوا دهمالیې غرونه تاو ده طوفانی بادونه لری چه واورې ویلوی اود ګنګ دسیند او به زیاتوی او هغه ځای ډیر لوی لوی پیلان او ببر اوزمریان لری .

وروسته مارکود (ختا) په باب خبرې شروع کړې دختا د سپوږمۍ ځلیدونکو نندار ځایو او د هغه هیواد دسیلاب لرونکو سیندونو او په سپوږمۍ ځلیدونکو شپو کښې دهغه ځای د ښاریانو او کبانود ښکار کولو د ډول اوطرز نکلونه یې وکړل اواوریدونکی یې خوښ کړل .

مارکو ویل چه په چین کښې هلکان د (کونفوسیوس) داصولو او مبادیو تر روزنې او تعلیم لاندې روزل کیږی او له کوچنیوالی څخه یې داسې تربیه کوی چه د خپل مور او پلار احترام او عزت وساتی او له خپلو همنوعانو سره مینه او محبت وکړی .

په همدغه شان به (مارکو) هر وخت د چین په باب کښې خبرې او نکلونو کول د هغه ځای دمانړیو جواهرواوزیاتو بیړیو بیانونه به یې کول.

مارکو پولو دخپلې سفر نامې له لارې ټولو اروپایانو ته خدمت کړی دی ځکه دده سفر نامه پرحقیقت اوربنتیا وومشتمله ده اوحتی په وروستیو کلونو کښې داروپا دسوداګرانو دپاره هم داکتاب ډیر ګټور پرېووت.

که څه هم په اول کښې دده وطنوالو دده په کتاب اعتماد نه کاوه خو وروسته چه پوهانو دا کتاب مطالعه کړ نو نه یوازې دا چه د (مارکو پولو) له لیکنو څخه منکر نه شول بلکه خپلې نقشې به یې دده د کتاب له مخې سمولې او دا کتاب به یې مخ ته ایښی وپه هر ځای کښې چه به دوی لیدل چه د جغرافیایی نقشې کوم ځای د (مارکوپولو) له کتاب سره برابر نه دی په نقشه کښې به یې هغو ځایو ته تغییرورکاوه.

په پای کښې ثابته شوه چه (مارکو پولو) په ربنتیاسره لومړنی سړی وچه ده وکولای شو چه دایشیا د براعظم له منځ څخه یې د اروپایانو پرمخ لاره پرانیستله او دهغو وطنو اوضاع یې بیان کړل.

او دی لومړنی سړی وچه دچین پراخ او لوی هیواد یې سره د هغه د شته منې اولویې اروپایانو ته وروپیژاند. (۱۲۵۴ - ۱۳۲۴م)

واسعی

د پښتو شعر او ادب خوږې خواوې

او خوند وراړ خونه

-۲-

زمونږ په معاصر وشعر اوو کښې بل نامتو شاعر ښاغلی بینوا دی دی هم لکه ښاغلی الفت مردف دیوان نه لری مګر د پریشانه افکارو په نامه یوه خوند وره مجموعه لری چه مونږ پخپل وار بعضی ټوټې ځنې را اخلو او خبرې به پری وکړو. اوس به مونږ لکه په دمخه ګڼه کښې چه مو وعده کړی وه د ماشوخیل مومند د (دیوان) افتتاحیه وینا را واخلو او هغه مزایا او خصوصیات به چه په دې ټوټه کښې موجود دی ښاغلو لوستونکو ته وړاندې کړو او په ترڅ کښې به یې د نورو افتتاحیه ټوټو سره پرتله هم کړو.

ماشوخیل دخپل دیوان افتتاحیه داسې شروع کوی او وایی:

آلهی د محبت سوز و ګداز را

په دا اور کښې د سهی سمند رساز را

دا دده د افتتاحیې لومړی بیت دی او که سړی ور ته ځیر سی او د ادبی ذوق او خوند څخه هم لږ ؤ ډیر برخه ولری دا به ومنی چه ماشوخیل دخپل دیوان دلومړۍ برخې په لومړی بیت کښې خپل ادبی

اعجاز او ناز کخیالی په ډیر قوت او قدرت څرګند ه کړې ده .

دی ځکه چه د عشق او حقیقی مینې دعوه کوی او ځان صادق عاشق اور بنتنی مین بولی نو په عشق کښې دویلی کیدلو او په مینه کښې د سوځلو هیله کوی او د ځښتن څخه غواړی چه دی یوازی د عشق او محبت په اور کښې لولپه او سوی سکور او تور تلب نه کاندی چه محوه او د کار څخه ووزی بلکه غواړی چه په دغه سره انګار او بلولمبو کې ژوندی پاتې وی او په عین اور کې د سمندر غوندې تل حیات او دایمی ښورنده او متحرک وی .

د ماشوخیل په دغه بیت کې د سمندر تر کلمې وړاندې لفظ د نسخو په اعتبار په دوو بڼو راغلی دی چه هغه د (سهی) او (ستی) شکلونه دی یعنی د پښتو ټولنې په چاپ کړې نسخه کې سهی او د لاهور چاپ په زړه نسخه کې ستی راغلی دی مګر دواړه کلمې یوه معنی او یو مقصد افاده کوی داسې چه :

سهی د سهلو د مصدره څخه اسم صفت دی او ستی د (ستی) د مؤنث اسم څخه مذکر اسم صفت جوړ سوی دی چه پر دواړو تقدیر و نو د سمندر صفت دی یعنی سهو نکی سمندر چه په اور کې ژوندکوی او داور سون او سرې لمبې سهی او زغمی . یا ستی سمندر یعنی هغه سمندر چه د ستی غوندې (چه قصه یې مشهوره ده) په اور کې ولاړ او سری لمبې شاؤخوا پر راګرزیدلی وی . وروسته وایی :

تن پرور بلبل دې عیش کاندې په ګلو
پروانه لره په اور زما ګداز را

په دې بیت کې هم ماشوخیل تقریباً د مخه بیت مضمون تکرار وی مګر په بل شیرین انداز او ډیره خوږه طریقه هغه داده چه دلته دی په ترخ

کښې ددوومینو پرتله هم سره کوی . دادوه مینان بلبل اوپټن دی چه یو استراحت طلبه مین عیاش اونازولی عاشق دی مګر دابل دعشق په کور کې خوارؤزار اودمینې په اور کې سوی او نهورؤنسکور بلکه تور تلب مین دی ماشو خیل دلته هم لکه په اول بیت کې دځان دپاره دپټن په دود د سوز اوګداز دغم او زحمته څخه ډکه مینه غواړی اود بلبل غوندې یې دګل تر سیورې لاندې عشق اوعاشقی نه خوښیږی .

یوه بله خوراخوندوره او خوږه موضوع چه ماشوخیل تماس ورسره موندلی دی دده په دی بیت کې مونږ ته په نظر راځی . دی وایی :

که می نه ازمویې په ویاړ د وږو سترګو
می د عشق په میخانه کې د مجاز را

ددې بیت لفظی او معنوی ښیګنی دواړه د ستاینې وړ دی په لفظی ښیګڼو کښې دوږو سترګو راوړل ډیر خوندور تعبیر دی . وږی سترګې د پښتو په محاوره کې یوه کثیر الاستعماله اوشایعه جمله ده هر چیری اوپه هر مورد کې مستعملیږې داځکه چه دسترګو وږیواله دډیرو معانی ووڅخه نمایندګی کوی دامعانی څوک ساده اوسر بیرن او ځینې نازک اومرموزوی اوفقط یوازې ادبی ذوق او وجدان یې تفسیر کولای سی . دساده ؤمعانی ؤمثالونه یې دادی چه دوږو سترګو څخه مقصدد سړی د کورنۍ اوفامیل خواری اوغریبوالی وی یادیو چاوږی والی (ګشنه چشمی) اوسترګې نه مړیدل یاهغه څوک چه څه یې نه وی لیدلی اود پلارؤ نیکه څخه خوار او نیستمن راغلی وی . او نازک ؤمرموزاړخونه یې دا دی چه وږې سترګې دشوق او اشتیاق دمیل او هڅې دهرڼۍ او مراق په معنی واخیستل سی لکه دماشوخیل په بیت کې چه همدغه معانی ځنې اخیستل کیږی .

نو دهمدغه توضیح په اساس دماشوخیل پدغه بیت کې وږې سترګې ډیرې ښکلی او ښایسته راوړه سوی دی او داسې خوږ او خوند ورلویدلی دی چه دسالم ذوق او حساس طبیعت څښتن هیڅ کله انکار نشی ځنې کولای.

ماشوخیل په دغه بیت کې په اشاره نه بلکه څرګندویلی دی د عشق پرخوا ږه او د نعمتو نو پرډك دستر خوان نه دی موړ سوی سترګې یې وږې او ګیډه یې خالې پاتې ده او که ترپزې پوری موړ هم شی بیا هم موړ نه ورته ویل کیږي، داسې دی لکه پخپل عمر چه یې نه څکه کړی او نه ئې څه په سترګو لیدلی وی. ځکه یې نو اشتیاق او مراق خورا ډیر او زښته وږ سترګې دی.

نو که ته دسترګو دلوږې او دحرص ؤ طمع پېغور نه ورکوې او په دغه عیب یې نه کږې نو تر حقیقی عشق د مخه د مجازی عشق په کور کې دده کټوری دمینې د شرابو څخه ورډك کړه ولې دی دغو شرابو یا عشق او مینې ته ډیر سترګك توری او هڅه یې خوراورته ډیره ده.

دماشوخیل په افتتاحیه کښې بل دخوند بیت او د لفظی ؤ معنوی قو ته څخه ډکه وینا دده دا کلام دی چه وایی:

که مې نه پاشوې سروزید ؤ عمر و ته
خپل زانو لکه نرګس محرم راز را

ماشوخیل ددې بیت په لومړۍ مصرع کې یوه عمومی مقوله چه تقریباً د نړۍ په ټولو ژبو کې رواج ده ځای کړې او ډیره خوږه او ښکلی یې راوړې ده دغه رنګه ئی په دوهمه مصرع کې د نرګس حالت دځان دپاره غوښتی دی چه تل ئې سر کښته ځړولی وی او داسې ایسی لکه چاچه سر دفکر پر زنګانه ایښی وی نو په دې بیت کې هم ماشوخیل ادبی ابتکار او شاعرانه اعجاز

په کار اچولی داسې چه په یوه بیت کې یې هم پښتو مقو له او هم یو ښکلی تشبیه او مجاز ژوندی کړی دی

اوس دې ښاغلی لوستو نکی قضاوت وکړی او دماشوخیل افتتاحیه ته ته دې د نورو شعرا ؤ او دوا وینو د افتتاحیه ته ته سره وګوری او د ادبی اوذوقی انصاف په تله دې سره وتلی چه آیا په نورو افتتاحیه ته ته کې دغه مزایا په سلو کې څومو جود دی ؟

پښتانه د دیانت او خپل پښتنی ننګ او حمیت په حکم سپین وریښته او سپین خلی ډیر نمانځی او دقد رواحتر ام په نظر ورته ګوری او له دغه جهته مشر او سپین ږیری ډیر محترم ګڼی تر دی اندازی چه د سپین خلی څښتن که څه هم د بل قوم او د غیر اسلامی دین او آئین سړی وی د هغه ملت ترځوان او زلمی په درنه ستر ګه ګوری او لوړ ځای ورکوی. دا ذهنیت د خور اکلکې عنعنې او یوې نه او ښتو نکی عقیدې په بڼه د هر حقیقی او ربښتینی پښتانه سره موجود دی، ادبا او شعرا چه د خپل قوم او محیط د خپل ماحول او چا پیر نمایند ګان او د ملی روحیاتو ترجمانان او د ملی افکارو او ذهنیتو نو مبلغین او ساتندوی دی په خپلو ادبی شاهکارونو او شعری وینا ؤ کې دې مسائلو ته بې اشارې نه پاتیږی او په پټه خوله نه ترتیر یږی لکه ماشوخیل چه هم پخپل لاندینی بیت کې تماس ور سره کړی او ځان ئې ځنې وهلی دی او وایی :

له دې خپلې سپینې ږیرې وشرمیږه
ولې نه ښائی په سپینې روځې غلا

(نور بیا)

پته

غازی واټ ، شمالی برخه ، نوی ښار
کابل- افغانستان
دپښتو ټولنې درئیس
تېلفون لمبر ۲۰۳۵۰
کابل مجلې دتېلفون لمبر ۲۱۷۱۶

داشتراك بيه

«په افغانی»

په کابل کښې ۴۰
د هېواد په نورو برخو کښې ۳۶
زده کوونکو ته نیمه بیه :
۱- کابل ۲۰
۲- اطراف ۲۳
د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالر
دیوی ګڼې بیه : ۴
د شپږو میاشتو اشتراك هم منل کېږي
د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانك
او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷
داشتراك بیه په اداره کښې هم اخیستل کېږي

دولتی مطبعه

KABUL

Monthly Journal Of The

Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature. Philosophy

Philology. Sociology. Art and related fields

President of the Academy: POHAND RESHTEEN

Editor: M. Sidiq Rohi

Co-editor M. Moman Patwal

Address Pashto Academy

Kabul. Afghanistan